# د لوي ښښتن په نامه

# تولیز سم اند یا منطق

راټولونکی: ډاکټر ماخان میړی شینواری

خپرونکی: ketabton.com
د شمشاد زهیر خپرونه

Ketabton.com

کال نومبر ۲۰۱۱ ز ک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیولیک


سریزه ۳

لومړی: تولیز سم اند Logic ۴

۱ – د ،، سم اند،، بېلابېلي پرېپوهېدني

د سم اند تاريخ – برخورشوګاني،

کلاسيکي سم اند، کالکیول بنه، کاکیولبنه

او سم انديزه تلنه، ناکلاسیک سم اند، فلسفي

سم اند، اینتویخیونیزموس، رېلېوانخ سم اند

او کونېکس سم اند، ډېر ارزښتي سم اند او

فوزي سم

۳. ۳. ۴ – ناموتوتون سم انونه

دويم: وينا( سم اند) ۱۶

ډېرځلېوالی، ويناغونډله او وينا،

غونډله- پرېکړه- وينا، رابندونه

غوښتنه(ثبوت)، ارزښتپرېکړه، وينابنه،

ويي، کلمه، د ويناو ډولونه، ساده – يوځای

اينبول شوې(ګډوله)، شننيزې- سينتاکتيکي،

ويناوي په ويتاسماند کې، وينا په پرېديکات

(ارزښتوني) سم اند کې.

دريم: سم انديز- فلسفي وييونښنه ۲۵

څلورم: پېژندنه Erkenntnis ۳۰

پنځم: پايونلاس ته راوړنه ۳۴

د سم انديزې پايوني ډولونه، بېلګې، د يوه

پايلاس ته راوړني سموالی، لومړې

نردېوالی، ټيکاو، په فورمال لوجيک کې

يي سموالی، پايلاس ته راوړنه، دا هم

وګورۍ؟

شپږم: په فورمال سم اند کې ټيکوالی ۴۱

اوم: ورته والي پايونه ۴۲

تاريخ، انتيک تر شولاستيک پورې،

ورته والي پايوني د شولاستيک له مخې،

تيوري، کارونه، د پردي يا بل په

ساپوهنې باندې پايونه، اتوم مودل،

پريودسيستم يا دوريي جدول ، دا هم

وګورۍ، برېښناپانو لينکونه، يوګوني

ښووني.

اتم: فوزي سم اند(منطق) ۴۷

تاريخي وده، فوزي-ډېرۍپوهنه( ست -

تيوري)،ناتېره ډېرۍ، نه والی، نه

پرېښودوني – يا – تړنه( سرکټ)، او-

تړونۍ، پرېښودونی-يا – تړنه، فوزي

څېرونه ( فنکشن)، د يوه نا- کرښيزفوزي

– څېرونه، کارونورشو،کلمو بېلونه

**نهم: ډېر ارزښتي سم اند ۵۴**

لسم: يو څو پښتو اړونده ليکني ۵۷

ډاکتر ماخان مېږى شينواری

مخ، مخامخ او اړوند وييونه يې 57

څېړنوال محمد اصف احمدزی

“مخ” او “مخامخ” 66

ژبه غني- معياري کول، نوښت او

نيولوجيزم ۷۵

د ډاکتر ماخان مېږي شينواري ليکني او

ژباړې ۸۱

د ډاکتر ماخان مېږي شينواري ژوند ته يوه

لنډه کتنه ۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



سریزه:

ګرانو لوستونکو په مینه!

دا یوه پېچلې پوهنریښنه ده، چې لیکنه او بیا یې له بلې ژبې څخه رانیونه نوره هم پېچلې کوي. دا چې موږ په پښتو داسې لیکنې کمې لرو او بیاپه داسې پښتو، چې هلته مو دموږ پیداښتې اړوند ویونه هم په کې له پامه غورځولي وي. دما دلته دوه موخې وې:

-- له یوې خوا مې مینه لروده، چې دا موضوع ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړم، ځکه چې د شمېرپوهنې سم اند یو کتاب مې، چې په نورو کتابونو کې هم ځاپه ځای شوی دی او

-- له بلې لور مې غوښتل، چې دا پېچلې لیکنه په پښتو ولیکم، چې په ګډه وګورو او دا پوښتنه ځواب کړو، چې ایا داسې لیکنې په پښتو کېدلی شي او که څنګه. دا د پښتو د غنیکولو مخنیوی نه دی، دا د پښتو ساتل دي او ژبه مو پوهنیزه کول، چې باید بلد شو، مسلکي او پوهنیز کتابونه هم په پښتو ولیکو.

تاسو دا کتاب یا دما ټولو کتابونو ته پام وکړئ، چې ایا موږ دا په پښتو لیکنې معیاري دي او که څنګه؟ بیا اندونه راسره ګډ کړئ.

دا نه منم، چې ګوندې موږ داسې بلد یو، خو دابه ومنم، چې موږ په بل ډول نه یو هڅېدلي او یا د دې هڅې توان مو نه لروده.

هر څه مو په خپله ژبه شونې دي او ساده. دا همدلته وګورئ، چې پرېپوهېدن کېدونکې ده.

په په پای کې مې دوه لیکنې د ژبې په اړوند هم وړاندې کړې، چې د سم اندیز فکر څخه لاس ته راغلې وي هم ...... هیله ده، چې هغه به مو هم خوښ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی : تېولیز سم اند یا منطق Logic

پیلیادونه: د مالپاره د دې موضوع څېړل او بیا د دې لیکنې ترتیبول همدومره ستونځمن دي، لکه داموضوع پخپله او ګومان مې دی، چې د لوستونکو لپاره به هم داستونځې وي. زیات وییونه او کلیمي دلته شته، چې هغه پخپله باید و څېړل شي او دا کار دلته کیږي. دا لیکنه په پښتو ده او هغه مسلکي ویونه به هم په پښتو څکه وي، چې زه په عربي نه پوهېږم، بیا هم راځی په ګډه یې سره جوړ کړو.

سم اند: دالیکنه د فلسفي او ژبنیز لیدکونج یا لیدتېکو ( چې له کوم کونج یا تېکي څخه یو څه کتل کیږي) سره سر او کار لري. د برېښناییزو سم اندیز- تړنو ته دیجیتال تښنیک او سم اندیزبنستتیګې وګوری.

له سم اند ( له زړې یوناني کلمي [téchnē](#) *logikè* λογικὴ τέχνη **Logik**فکرکوونکی هنر ، مخ ته تګډول یا ښونبنسټ یا دلیل Argument ) څخه په تېوله کي هوښیار پای لاس ته راوړنه یا پایونه Schlussfolgerungاو په ځانګړي توګه د ده پوهنیزه پای لاسته راوړنپوهنه یا فکرپوهنه Denklehre پوهېږو. په سم اند کي د ښونبنسټ د هغه و باوریوالي جوړښت ته څېړل کیږي، له وینا خوندیوالي څخه خپلواک. په همدې موخه سړی له ،،فورمال ( دباندنی بڼې)،، سم اند څخه هم غږیږي. درسم او رواج سره سم اند د فلسفې یوه برخه ده. له پیله ورځني سم اند د رېتوریک په ګاوندیتوب کي وده وکړه.

د شلمې پېړۍ راپه دېخوا سړی د سم اند لاندې یا څخه سیمبولیک سم اند، چې دا هم د جوړښتپوهنې Strukturwissenschaften د بنسټ په څېر دی، پوهیږي. لکه د شمیرپوهنې او د تیوریتیکي اینفورماتیک په دننه کي، چې کارول کیږي.

د یووېشتمې پېړۍ په پیل کي دا د ما ماخان مېږي شینواري له خوا ،، سماند،، بلل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






دواړه سپي *veritas* رښتیا او *falsitas* نارښتیا هوسی *problema* پرابلم ښکار کوي، سم اند له درانه syllogismus سم اندیزې پایونې سره مصلح پسې ځغلي. کیڼ لاندې Parmenides (یوناي فیلوسوف)، د سم اندیزو دلایلو په فلسفه کې له ننوتنې سره، په سمڅه کې ځای ونیوه.

ورځنی یا مودرن سیمبولیک سم ان د پیداښتي ژبې پر ځای باندې د جوړې شوې ژبې څخه کار اخلي ( غونډله لکه ،، *منه سره ده،،* په ځای د بېلګې په توګه دغونډلویناو سم اند یا غونډلویناسم اند Prädikatenlogik ( پرېډیکات:د ازماېښت له لارې ارزونه) سره په فورمالي شوي بڼه لکه د ،،منې،، او ،،سره،، لپاره ځاي په ځای شوی وي) او د دې لپاره کره پېژندل شوي پایلارې یا و پای ته ورلو لارې ته راوړني Schlussregeln کاروي. د دې لپاره د فورمال سیستم څخه یوه ساده بېلګه ویناسماند Aussagenlogikدی ( دلته د اتومي ویناولپاره تورې ایښول کیږي). سیمبولیک سم اند شمېرپوهنیز سم اند هم بلل کیږي ( د آکثر ماخان مېږي شینواري د سم اند کتاب کتل کېدی شي) او یا په تنګه – یا راتړلې موخه فورمال سماند.

منځپانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ – د ،، سم اند،، بېلابېلې پرېپوهېدنې

۲ - د سم اند تاریخ

۳ – برخورشوګانې

۳ . ۱ - کلاسیکي سم اندKlassische Logik

۳ . ۱ – کالکیول بڼه Kalkültypen2 او سم اندیزه تلنه

۳ . ۲ – ناکلاسیک سم اند

۳ . ۳ . ۱ – فلسفي سم اند Philosophische

۳ . ۳ . ۲ اینتویڅیونیزموسIntuitionismus ، رېلېوانڅ سم اند Relevanzlogik

او کونېکس سم اندund konnexe Logik

۳ . ۳ . ۳ – ډېر ارزښتي سم اند او فوزي سم اند Mehrwertige Logik und Fuzzylogik

۳ .۳ .۴ – نامونوتون سم انونه Nichtmonotone Logiken

یادونه: دا پورته جرمني وییونه په خپل ځای کې څېړل کیږي.

د ویي ،، سم اند، منطقLogik ،، بېلابېلې پرېپوهېدنې

وېینه یا افاده ،، سم اند یا منطق،، په یوناني کې *logikè téchnē* په زاړه ستوا Stoa ( د پخوا وخت یو ښونځی دی) هم په زاړه Peripatos ( د پخوا وخت یو ښونځی دی) کې د دلایلو همداسې د پایونپوهنې لپاره راغلی، خو په دې پرېپوهېدنه د لومړي سلیزې ز ک څخه د مخه نه دی راوړل شوی. دا کلمه ان له انتیکو Stoiker Zenon von Kition ستویېکي زېنون له کیتون څخه خوره شوې.

په الماني کې دا ویي "Logik" په ۱۹-مه پېړۍ کې ( لکه مانول کانت، جورج وېلهلم ، فریدریش هېګل) ډېر واره هم د پېژندتیوري ،، اونتو لوجي،، یا ټولیز دیالیکتیک لپاره کارول کېده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم اند په مودرنه یا اوسنۍ موخه له بلې خوا زیات وخت بل ډول په نخښنه شوی، لکه شننه، دیالیتیک، یا لوجیستیک. نن هم د بېلګې په ډول په سوسیولوجي کې د معامله کولو سم اند فرمولول یا ادبیاتپوهنه کې لکه د شاعرۍ سم اند او ورته خوریږي یا وېشل کیږي، چې په هغو کې د نورو په څنګ کې د لاس ته راوړني تیوري نه پوهیدلکیږي، بلکه د ټولیزه ،، لارې یا قوانینو،، پوهنه یا د تلنلارډول، چې په یوه ټاکلې ورشو کې باور لري. په ځانګړې توګه د فرمول ژبې فلسفې په رسمرواج کې د یوې ،، سم اندیز،، شننې لاندې دېر واره یوه شننکلمه بیز اړوندوالی پوهېدل شوی.

په پیل راوړني انځورونو کې د ویېنې ،، سم اند،، کارولډول د دې په مخامخ د شلمې پېړۍ له پیله ورځنی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولیزه  یا ورځنۍ ژبه کې دا ویینه لکه ،، سم اند،، یا ،، سم اندیز فکر،، له دې وراخوا په ډېرو نورو یا په پوره بله موخه پوهېدل کیږي او داسې یو ،، هراړخیز فکري پرابلم“**lateralen Denken**„ یې په برکې نغښتل،، یا  **مخ ته ړدي.**

همداسې کلیمې لکه د ،، ښځو سم اند،، د ،، نارینه و سم اند،، او “Affektlogik„ او کلیمې ،، ټولوزځنی سم اند،، چې د ،، روغ انساني یوهېدنه،، (*common sense*) په ورځنۍ ژبه کې

په دې ورشو کې ،، سم اند،، زیات وخت د پراګماتیک **Pragmatik**د معاملې په فورم سره سر او کار لري. یو دلیل( ارګومنت) د ورځنۍ ژبې د ،، سم اندیز،، په حیث  په نخښه کیږي.

دا مدلل، اړینشوی، باوري، روڼ او روښانه بریښي.

په یو سم اندیز دلیل کې باید  د فکرکوني توان  ځرګند شي.

په اوسنیو خبرو کې دا لا تر اوسه پورې د  ردولو نه دی،  چې د سم پسې تلنې یالاس ته راوړنې تیوري د سم اند زړی جوړوي، خو بیا هم دا د ردولو نه ده، چې کومه تیوري سم اند پورې اړه لري او کومه تیوري سم اند پورې اړه نه لري. ډېرۍ پوهنه او دلیلتیوري د منل – نه منلویا ردول او نه ردولو حالتونه ( کوم چې د پراګماتیک او د ناسم پایونو سره سر او کار لري) او د خبرکړنو تیوري**Sprechakttheorie**

د سم اند تاریخ Geschichte der Logik ،

برخورشوګاني یې

ټولګیز سم اند

ټولګیز سم اند  Klassische Logik

دټولګیز سم اند همداسې له یوه ټولګیز سم اندیز سیستم څخه سرۍ ټیک هغه وخت غږیږي، چې لاندې سیمانتیکي semantische دلایل پوره وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ – هره وينا له دواړو ربنتياارزښتونو، چې ريښتيا او ناريښتيا بلل کيږي ټيک يو لري، دا په دې پرېپوهېدنه، چې وينا يارښتيا يانارښتيا ده. دا پرينځيپ د دوه ارزښتوالي پرينځيپ بلل کيږي يا **Bivalenzprinzip**...

۲ – د يوځاى شوي يايوځاى اينولشوي يا تړلي وينا رښتيا ارزښت. د وينا رښتياارزښت يواځنى د هغه برخويناو د رښتياارزښت او د ډول له لارې ځخه چې دا برخويناوې څنګه سره اينول شوي يا يوځاى شوي دي، ټاکلى دى. د پراخېدنې پرينځيپ.Prinzip der Extensionalität oder der Kompositionalität

د ټولګيز سم اند *klassische Logik* کلمه زياته د ځاى په ځاى شوي - ، ځاينيولي - ، بنسټيز سم اند په موخه پوهېدل کيږي، ځکه چې ناټولګيز- نا دوريېزسم اند په هغه جوړ، د تاريخي سپارښت په توګه. له دې وراخوا Aristoteles اريستو تالس که داسې ووايو د سم اند نماينده، ځان د ډېرارزښتيز سم اند او همداسې ناکلاسيک سم سره بوخت کړى وو.

- د فورمال کلاسيک سم اند غوره برخورشوګاني کلاسيکويناسم اند، د لومړى پوړى برېديکات سماند او د جګو پوړيو سم اند، چې د ۱۹- مې پېړى پاى او د شلمې پېړى پيل کې له ګوتلوب فرېګې، چارلزاسندرز پيېرس، برتراند رسل او الفرد نورف وايتهېډ ( Gottlob Frege, Charles Sanders Peirce, Bertrand Russell und Alfred North Whitehead ) له خوا وديز شوي يا پرمخ تللي. په ويناسم اند کې ويناوې شنلکيږي، چې ايا دوي له خپله ځانه ښېرته له ويناو يوځاى شوي يا تړل شوي يا د ګډوله ويناو په څېر راغلي، چې د يونکتورونو Junktoren يا تړننخښو ( د بېلګې په توګه: ،، او ،، ، ،، يا ،، ) له لارې سره يوځاى تړلشوي. که يوه وينا د يونکتورونو يا تړنخښو له لارې تړلو برخويناو سره نه وي تړلې، دا د وينا سم اند له مخې اتومي ويناوې دي، داپه دې پرېپوهېدنه (پ،پ)، چې نوره نه ټوټه کيږي يا بېليږي.

پرېديکات سم اند د غونډلي دننه جوړښت هم انځورولى شي، چې وينا سم انديز نورې نه ټوټه کيږي. د وينا ( منه سره ده) دننه جوړښت انځورونه د پرېديکات ( ويناڧنکشن هم بلل کيږي) له لارې( سره ده) له يوې خوا او د هغه د ارګومنت (منه) يا دليل له بلې لور، له دې سره پرېديکات د بېلګې په توګه يو خوي ( سور) وايي، چې ارګومنت باندې دلالت کوي، يا اړيکې، چې د هغه د ارګومنتو په منځ کې شته ( xله y څخه لوى دى). دا له شمېرپوهنيز سم اند څخه ( دما د شمېرپوهنې سم اند کتاب کې کتل کېدى شي) له څېروني( مېپينګ) کليمه رابېله شوې يا منځ ته راغلي.

يو سم انديز ويناڅېرونه(ڧنکشن) ټيک لکه يو شمېرپوهنېزه څېرونه يو ارزښت لري، چې هغه شمېرنيز نه دى ( په ګڼونو نه ليکل کيږي)، بلکه يو رښتيا ارزښت دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لومړۍ پوړۍ پرېډيکات سم اند او د لوړو پوړيو پرېډيکات سم اند توپير په دې کې دی، چې د کوانتوررونو Quantoren ( ››ټول›› ، ›› لږتر لږه يو››) له لارې کوانتيفيځير quantifiziert کېږي.

د لومړۍ پوړۍ پرېډيکات يواځې په يوګونو باندې کوانتيفيحير کېږي( د بېلګې په توګه ›› ټول چرګان سره دي››)، د جګو پوړيو په پرېډيکات کې او پخپله په پرېډيکات کوانتيفيحير کېږي ( د بېلګې په توګه ›› يو پرېډيکات شته، چې په سوکرات اړوند دی››).

د بېلابېلو ويېنکاتيګوريو لکه ترمونه، فونکتوروونه، پرېډيکات او کوانتوروونه Termen, Funktoren, Prädikatoren und Quantoren فورمال اړتيا پرېډيکاتونو سم اند( د ارزښتوني سم اند) ته اړتيا شته. دا په پوړيز سم اند کې، د تيپيکي Lambda-Kalküls ، په بڼه سرته سيږي. له دې سره د بېلګې په توګه شمېرپوځنيز ايندکشن Induktion يو ورځنی رابېلېدوړ فرمول

تر ۱۹ –مې پېړۍ پورې برلاسی سيلوګيستیSyllogistik، چې تر ارېستوتالس پورې بېرته ځي، د پرېډيکات د مخکښ په ځېر کېدی شي و پوهېدلی شي. د سيلوکسيتيک يوه بنسټکلمه دا کلمه›› کلمه›› ده، هغه هلته نوره نه ټوټه کيږي.

په پرېډيکات( د ازماېښت له لارې ارزول) يا د ارزوني سم اند کې کلمه د يوځايېزې پرېډيکات په ځېر ويلکېږي ياکه غوارۍ افاده کيږي، د ډېرځاييز پرېډيکات سره کېدی شي ورزيات د کلمې دننني جوړښت وشنل شي او له دې سره د دليل يا بنسټېنونيز باوريوالی وښايي، چې هغه سيلوګستي رانيولوړ نه دي. يو زياته intuitiv ( بې شنني پوهېدل) کارول شوې ورځنی بېلګه دا دليل دی ›› ټول اسونه ژوي دي، نو له دې سره ټول اسررونه د ژويو سرونه دي›› . چې په پورته سم اندونو کې لکه پرېډيکات سم اند څخه رابېلېدلی شي يارانيولکېدی شي.

**کالکيول- يا شمېرنډولونه او سمانديز شننيزه کړنلار**

**Kalkültypen und logische Verfahren**

د وخت سره سم فورمال سم اند ځان دې دندې ته خپلواک کړی، چې د ويناو ( سيماتيک باوري ويناوي Tautologien يا تل رښتيا بلل کيږي او سينتاکتيکي باوري ويناوي تيورم يا جمله ياقصيه بلل کيږي) د پايونو او سم انديزو باوريوالی څخه ټيک کريټېرينونه وديز کړي. دلته بېلا بېلې شننيزې کړنلارې وديزې کيږي.

په ځانګړې توګه د وينا سم اند په ورشو ( نه ځانله) سيمانتيکي شنن کړنلارې ورځنی دي، نو داسې کړنلارې، چې په دې ودانې دي، چې وينا و ته رېښتيا ارزښت ورکړل شي يا ولرلی شي. دې ته دا لاندې ور ګڼل کېدی شي:

رېښتياوالي جدول يا لښتکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په داسي حال کي دټول ريښتياوالي ګډوله والي لېست مخ ته د کار لپاره ونيسی ( او دا هم يواځي په وينا سم انديز ه ورشو کي ترې کار اخستوني دي)، دا نورې بيا د Reductio ad absurdum ( بېرته ناړوند، بې موخي ته لاربندونه) څخه مخ ته ځي: که يوه توتولوجي، چي ښول شوي، سړی د هغه له نه والي مخ ته ځي او ازمايي ياهڅيږي، چي يو مخامخوالی يا نه Negation ترې را بېل کړي يا راوباسي. دلته ډېر بديلونه د کاروني دي.

---

## Nichtklassische Logiken ناکلاسيکي سم اند

له يوه ناکلاسيک سم اند يا همداسي د يوه ناکلاسيز سم اند سيستم څخه هلته غږيږو، چي لږ تر لږه يو له دې پورته کلاسيک پرينځيپونو يا اصولو( دوه ارزښتوالی او / يا پراخېدنه Zweiwertigkeit und/oder Extensionalität ) څخه يو له لاسه ورکړل شي. که دا د دوه ارزښتوالي اصول له لاسه ورکړل شي، زيات ارزښتيز سم اند منځ ته راځي. که د پراخېدني پرينځيپ، لار يا اصول له لاسه ورکړل شي، اينتنزيوناليز سم اند منځ ته راځي. اينتنزيونال د بېلګي په توګه موډال سم اند دی او اينتنزيونال سم اند کي دواړه اصول له لاسه ورکول کيږي، ډېر ارزښتيز اينتنزيونال سم اند

منځ ته راځي. ( دا هم وګوری: کاتيګوري: ناکلاسيک سم اند)

فلسفي سم اند Philosophische Logik

فلسفي سم اند د بېلابېلو فورمال سم اندونويوه نه تېزه رايوځای شوې کلمه ده، چي سم انديزې وېناوې – او پرېديکات سم اند په بېلا بېلو ډولونو بدلوي يا تغير ورکوي او پراخوي يي ، په داسي لار، کومه چي د هغې ژبه د نورو ټاکلو خبرورشو ګانو په نورو اوپراتورونو ماړه کړي يا وغزوي.

فلسفي سماندونه د شمېرپوهني لپاره سيده پامور نه دي، خو د بېلګي په توګه په ژبپوهنه يا اينفورماتيک کي کارول کيږي. دوي ډېرواره پوښتني کاروي، چي هغه مو لرې د فلسفي تاريخ ته بېرته بيايي، چي د اريستوتالس په هغه وخت کي د اريستوتالس سره خبرې پرې شوي، د بېلګي په توګه د موداليتي ( امکانات او اړينوالي) سره کړه وړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فلسفي سم اند  سره لاندې ورشوګانې ګڼلکیږي.

-- مودال سم اند مو د مودال جمله اوپراتورونو یا نخښو Satzoperatoren ته لاربښودوي لکه ،، دا ممکن دي، چې....،، یا ،، دا اړیین دي، چې ....،،  او د مودال دلیلی د باوریوالي شرایطو څېړنې ته،

- epistemische Logik bzw. doxastische Logik
- ( عربي: نسبة الصرع فارسي: اپیستمیک: دلته څېړل شوې،خو بل ځای کې به هم وڅېړل شي) د عقیدوې ویناو فرمولولو څېړنه ، د قانع کونې  او پوهېدنې او همداسې له دوې جوړ دلایل،
- Deontische Logik یا د Normenlogik  د فورمالي شوو، ،، وکړئ او مه کړئ،، څېړي او قانع کېدل ( اجازه شته، چې ....) او همداسې له دوې جوړ دلایل.
- Temporale Logik der Aktionen, die Quantenlogikاو نور temporale Logiken ویناوې او دلایل څېړي، په هغو کې په وختتېکي او وختبرخې په پام کې نیولو سره.
- Intensionale Logiken دا یواځې ایکستنژن(Extension (پراخېدونو: پرېبو هېدنه یې د په نخښه شوو توکو په موخه) نه، خو د هغې Intension ( موخه/ پرېبو هېدنه: د په نخښه شوو خویونو په موخه) د کلمو او غونډلو پراخېدنه.
- Interrogativlogik پوښتنسم اند همداسې پوښتنې، چې ایا د دوه  غونډالو په منځ کې سم اندیزې اړیکې ټینګېدی شي،
- Konditionalsatzlogik د مادي ایمپلي کېشن Implikation برسېره ،، که – نو،، شرایط څېړي.
- Parakonsistente Logiken پاراکونزستنت سم اندونه، په دې کې ځان راباسي، چې هغوئ ته دا مکن نه دی له دوه مخامخو ویناو څخه یوه وینا راوباسي. له دې سره Relevanzlogik ریلېوانځ سم اند هم خوندي لري، چې د مادي ایمپلیکېشن په ځای اېپلېکېشن  کاروي، چې هغه ټیک هلته ریښتیاده، چې د هغې د مخه غونډاله، دهغې پسې غونډلې لپاره ریلېوانت وي ( داپسې برخه هم وګورئ)

## اینتوځیونیزموس، ریلېوانځ او کونکس سم اند

Intuitionismus, Relevanzlogik und konnexe Logik

(ګوماني ؟ ، غوره والی او د شیانو په منځ کې شته اړیکې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په دې پرېپوهېدنه، چې: ګوماني سم اند، غوره والي سم اند او د شیانو په منځ کې د اړیکو سم اند.

یادونه: د دې فلسفي او سمانديز ویونو په پښتو ژباړه لږ داسې پېچلي غوندې ده. نه ځانله د دې ، د ټولې لیکنې په هکله هرو مرو مرستي او ښه والي ته اړتیا شته. موږ – ګومان مې دی – د داسي لیکنو سره په لومړي ځل مخامخ کېږو، تر هغې پورې، چې ما ته زوښنانه ده، نو د پوهېدلو او پوهونو سره ستونځې شته.

له کلاسیک سم اند څخه څنګېدنه هغه ډېرې خبرې پرې شوی سم اندونه انځوروي، چې دوي د کلاسیک سم اند له ټاکلو اکسیومونو څخه تېرېږي ( که غواړی: صرفنظر پرې کوي؟). دا په راتنګه موخه کلاسیکي سم اندونه نه دي،، ناتوانه،، و کلاسیکي سم اند ته، دا په دې پرېپوهېدنه چې په دې سم اند کې کمې ویناوې باوري دي و د کلاسیک سم اند ته، او ټولې دلته باوري ویناوې هلته هم باوري دي.

دې پورې اړوند له L. E. J. Brouwer څخه وديز شوی Intuitionistische Logik سم اند، کوم چې „duplex-negatio“-Axiom ( د یوې وینا له ډبل نه والي p (نه نه) لاس ته p راځي ) په لاندې کې د ،، نه،، لپاره ځای په ځای شوي

(DNډبل نه والی)  77p=> $p$

خوندي نه لري، له کومې چې غونډله „tertium non datur“ ( د هرې وینا لپاره باور لري: p یا نه p)

(TND) نهp $\vee$ p

نوره نه رابېلیږي، د Ingebrigt Johanssons مینیمال کالکیول، له کوم سره چې غونډله

„ex falso quodlibet“ ( له یوه ردوني یوه په خوښه وینا لاس ته راځي)

(EFQ)      7p =>( p =>q)

1.

بېرته نه شي رابېلېدی، همداسې له دې تړلي یا اړونده سم اند Relevanzlogiken ، په کوم کې چې یواځې د بنې $q$ $p => q$، په کوم باوري دي، په کوم کې p دq لپاره کوزال ریلیوانت دي kausal relevant دي ( Implikation#Objektsprachliche Implikationen) وګورئ.

په خبر اتریز سم اند کې اوSequenzenkalkülen کې کلاسیکي او نه کلاسیک سم اندونو کې د اړونده ورزیاتو لارو په یو بل کې ننوتوړ یا اړووني دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بل اړخ کې یې سم اندونه دیادوني دي، اصول خوندي لري، چې کلاسیکې باوري نه دي. دا غونډاله $7(p => 7p)$ ( ( 7د نه لپاره نخښنه) دا د نه pنخښنه بل ډول ده، خو زه یې هغسې نه شم لیکلی همدا ،،7،، به د نه لپاره کېږدو) داسې برېښي، چې په لومړي سر کې یوه منلوړ سماندیز بنسټغونډله وایي: نو که p باور ولري، نو کېدی شيp ، داسې برېښي، چې نوره به ناسمه نه وي.

بیا هم غونډله په کلاسیکي سم اند کې باوري قضیه ده. تر هغې چې کلاسیکي خورا کلک ځای په ځای دی، دا په دې پرېپوهېدنه، تر هغې چې د یوه کلاسیکي کالکیول لاري توانمندي و یوه مخامخوالي ته لاربنود کړي، دا غونډله د نورو اکسیمونو لپاره هم ورزیاته شي. کونېکس سم اند چې د د مخه - فورمال اینتویشن، هغه چې غونډله وایي، غواړي باوري یا ریښتوني شي، چې دا د قضیي په څېر راوباسي، باید له دې امله نور کلاسیک-سماندیزې قضیې رد کړي.

په داسې حال کې چې د اینتوېستي intuitionistischer ، خورا واړه او relevanter سم اند هغه ښونوړ فرمولونه هر یو یې یوه د کلاسیکي ښوونوړ فرمولونو سوچه برخه ده، د دې په څټ یا که غواړی مخامخ د کونکس Konnexe او کلاسیکي سم اند اړیکي داسې دي، چې په دواړو کې فرمولونه هم ښوونوړ دي، داسې چې په دې بل سماند کې باوري نه دي.

## *Mehrwertige Logik und Fuzzylogik* **ډېر ارزښتيز او فوزي سم اند**

دي ته پراته یا پروت ځای په ځای شوی یا اینبول شوي ډېر ارزښته سم اند، په کوم کې چې د دوه ارزښتوالي او زیات وخت هم د دریم د نه والي ارېستو تالس غونډله باور نه لري، له دې سره د درې ارزښتوالي او زیات ارزښتوالي د .(„Warschauer Schule“) [Jan Łukasiewicz]() ( سم اند. دا کېدی شي په سوسیولوجي او ځنو نورو برخو کې وکارول شي، چې زه یې نه غزوم.

### *Nichtmonotone Logiken* ***نامونوتون(نه جګتېتېدونکی) سم اند***

یو سماند هغه وخت مونوتون بلل کیږي، چې هر باوري دلیل بیا هم ساتلی پاتې شي، که د نورو نیونو یا فرضیو ورزیاتولو سره یې باوریوالی ساتلی وي: یو څه چې یووار ښولشوي وي، په یوه مونوتون سم اند کې تل باوري پاتې کیږي، هلته هم، که سړی په بل وختتکي کې نوی لاس ته راوړني یا معلومات ورزیات کړي. ډېر زیات سم اندیز سیستمونه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونوتونې خوېونه لري، له دې سره ټول کلاسيکي سم اندونه لکه وينا – او پرېديکات سم اند.

په ورځني ژوند کې او همداسې په پوهنيزه ياونه کې زيات وخت د اوس لپاره پايونلاس ته راوړني راوپېستل کيږي، چې توانمنده سم انديزه موخه باوري نه دي او د وروسته وخت لپاره بايد کمې يا رد شي. دبېلګې په توګه له ويناو مرغان ،، توکس ( پينګوين) يو مرغه دی او هغه زيات يې الوتلی شي. ،، چې د اوس لپاره يې داسې رابنده کړو يا راوتړو، چې توکس الوتلی شي. که موږ نور معلومات، چې توکس يو پينګوين دی.،، لاس ته راوړو، نو بايد داپايونه سمه کړو، ځکه چې پينګوينونه الوتلو توان لرونکي مرغان نه دي. دا ډول پايونه چې جوړوو، نو نامونوتون سماندونه وديز کيږي: دوي له مونوتونې خوېونو تېريږي، داپه دې پرېپوهېدنه چې يو باوري دليل کېدی شي د نورو نيونو ورزياتولو سره ناباوري شي.

دا ټيک هلته باور لري، که و کلاسيک سم اند ته يو بل Konsequenzoperation وکارول شي. يوه روانه ځای په ځای کونه په دې کې ده، داسې په نامه *Defaults* چې وکارول شي. يو دېفاولت پايونه هلته باور لري، که د کلاسيک- سم انديزې پايونې ته ردونه ورنه کړي.

د ورکړل شوي پايونلاس ته راوړني بېلګې داسې وليدل شي:،، توکس يو مرغه دی،، وړاندنيونه پاتې کی.(prerequisite). موږ دا د يوه داسې په نامه اجازه لرونې يا حق ورکړل شوې (justification)داسې کمنت کوو: ،، مرغان په نورمال ډول الوزي،، له دې دليل څخه داسې پايوو، چې توکس الوتلی شي، تر هغې چې د هغې مخامخ څه نه وي ويل شوي.

لاس ته راوړنه يا اغيز يې ،، توکس الوتلی شي.،، اوس معلومات لاس ته راوړو چې ،، توکس يو پينګوين دی،، او ،، پينګوينونه نه شي الوتلی.،، ، نو داسې يو مخامخوالی لاس ته راځي. د Default-Schluss د دېفاولت پايونې ( موخه ورکړل شوې پايونه) سره موږ دې نتيجې ته ورسېدو، توکس الوتلی شي. د يو کلاسيک-سمانديز پايونډول سره کړی شو موږ وښايو، چې توکس نه شي الوتلی. په دې حالت کې دېفاولت کميږي او د کلاسيک- سم انديز پايونه يې کارول کيږ. دا - دالته داشډل څېړل شوي- تلنلار د Reitersche Default-Logik په نخښه کيږي يا بلل کيږي ( دلته دې د نامونوتون ايندکتيو بايز سم اند هم وکتل شي).

پای يادونه: کوم الماني ويونه، چې نه وي روښانه شوي، د وييونو په برخه کې به روښانه شي.

داسې يو څو سم انديز ويونه، که پورته ليکنه کې نه وي روښانه شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Affekt پارېدل یا پارول. ښه یې: یوه سملاسي کړنه( بې له فکره او له د مخه نیت څخه)

Aussagen وینا

Axiomatische Logikkalküle

)Argumentیا ښونښتې یا دلیل

Aspekten لیدکونج، کتلتکی

Extensionalität پراخېدنوالی

**Folgerichtigkeit** منطقی سموالی

Formale فورمال سم اند

**Intuition** : توله ښه: دلته برخي شاته پاتیږي. ښیلګه: ستا احساس تاته وایي، ستا ملګری همدا اوس زړه بدی یا دردول شوی ( په قهر شوی). ته لومړی د هغه د مخ وییني ، د هغه تن ځاننیونه یا د هغه غږ یوګوني برخي نه څېړې.

Kalkül حساب التفاضل، فارسي: حساب ، ګڼل( ښه یي دا دی، چې دپېژند څخه پام ورته وکړو)

1. Kategori (په یوه ډله پوري تړلو یا -- ترتیبولو ) : یووالی له کسان، شیانو، حاالتون ( ښنګه والو) کلمو او نورو څخه، په یوه ډله پوري تړلو یا -- ترتیبولو ته.
2. Prädikatenlogik ( پرېدیکات:د ازماېښت له لاري ارزونه)

Quantor دا د یو شمېرپوهنیزو شیانو لپاره ټاکلي نخښي دي.

**Schlussfolgern پایله یا پایونلاس ته راوړنه . فارسي: نتیجه، غربي:** استدل

---

## دویم: Aussage(logik) وینا( سم اند)

یوه وینا د اریستوتالس د اند سره سم یو ژبنی جوړښت دی، موخه ور دی، له هغي څخه پوښتو، چې ایا دا رېښتیا او که ناریښتیا ده ( د اریستوتالس د دوه ارزښتوالي پرینځیپ). دا غوښتوني نه ده، چې وویلی شو، چې ایا دا جوړښت سم یا ناسم دی. دا بسیا کوي، چې رېښتیاوالي( داسې ده) یا ناریښتیاوالی( داسې نه ده) موخه -وره ده، دا سې حالت د بیېلګي په توګه په پوښتنغوندالو، همداسې په غږکولو(یوچا ته ) او غوښتنو کې نه دی. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې سره ويناوي غونډلې دي، چې شي حالت يا شي څنګه والی روښانه کوي او هغې ته يو رېښتيا‌ارزښت ترتيبولی ياتنظيمولی شي.

## منځپاڅه

١ – ډېرځلېوالی
١ . ١ – ويناغونډله او وينا
١ . ٢ – غونډله- پرېکړه- وينا
٢ – رابندونه
٢ . ١ – غوښتنه(ثبوت)
٢ . ٢ – ارزښتپرېکړه يا – قضاوت
٢ . ٣ – ويناښنه
٢ . ۴ – ويي
٣ . ۵ - کلمه
٢ . ۶ – پايونه
٣ – د ويناو ډولونه
٣ . ١ – ساده – يوځای ايښول شوې(ګډوله)
٣ . ٢ – شننيزې- سينتاکتيکي
۴ – ويناوي په ويناسماند کې
۵ – وينا په پرېديکات (ارزښتونې) سم اند کې

Mehrdeutigkeit ډېرپرې پوهېدنوالي ( يوه نخښه، چې ډېرې پرېپوهېدني يا ډېرې معناوې ولري):

د ويېنې(افادې) وينا د مخه ويل شوې پرېپوهېدنه(معنی د وينا واکمنه پرېپوهېدنه(معنی ده.

دا د وينا بللشوی نوم ډېرپرېپوهېدنيز ( يوه نخښه، چې ډېرې پرېپوهېدني يا معناوې ولري) لپاره کارول کيږي.

دا په څلور بنستيز پرېپوهېدنو رالېدولی شو:١ – وينا د ويناغونډلي (غونډله) په موخه ( يا،، د يوپه بل پسې راغلو ويناو ډېرئ).

١ – د پروپوزېشن ( وينا موخه، ،، داويل شوي، ( د وينا څخه) موخه ييز شي حالت، پرېکړې موخه، فکر، فکر پرې شوی، پرېپوزېشن)، ،، لېدنوږ غونډله،،.

٢ – ويناوې د يوې غونډلې د څرګندونو په موخه،

٣ – يوه وينا د پرېپرېکړې عمل په څېر( پرېکړه يا قضاوت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ - د ویینې(افادې) وینا د پرېپوهېدنې په واک کې ده، چې د رینتیاوالي او ناریښتیاوالي ،، د سم اند ټیک د خبرو اله ،،او څه شی ورونی،، دی. د سم اند د تخنیکي اړتیاو لپاره د دې پوښتنو روښانه ونه په پوښتنه کې نه راځي.

## Aussagesatz und Aussage ویناغوندله او وینا

له پراخه شوې ، مګر پوره نه منل شوي یا یا لا جنجالي فکر وروسته ویناوې غونډلې نه دي، خو دوینا ( یواځې) ژبنیزې وییني ویناغونډلې دي. یوه ویناغونډاله د وینا لپاره د نمائینده په څېر غوره شوې یواځې د وینا لپاره یوه نخښه ده او یواځې ،، د وینا ژبنیز کوریلات یا (بدیل) اړیکي دی،،. د ویناو او ویناوغونډلو د برابرایښونو په مخامخ به وکارول شي، چې د غونډلبنې او د هغوې د څرګندونو ویناوې توپیر شي، ،، کومې چې له دې څرګندونو سره جوړې شوي دي،،.

بېلګه ۱ : ( برابر پرېپوهنیزئ غونډلې): ،، دا کور درېپوړیز دی.،، - ،، دا کور درې پوړه لري.،، - “This house has three floors.”: د یوه شي حالت لپاره درې غونډلې د یوې وینا سره.

بېلګه ۲ : که سپین او خوړه ووایي ،، زه ناروغ یم،، ، نو دوې دواړه همغه غونډله وایي او بېلابېلې غونډلمخ ته راتلنې جوړوي او د خپلو څرګندونو سره بېلابېلې ویناوې جوړوي.

## Satz – Urteil – Aussage غونډله – پرېکړه - وینا

Tugendhat ( الماني فیلوسوف) په شډلوییته د سم اند له یوه ژبنیز، سایکولوژیک او اونتو لوژیک بنسټ څخه خبرې کوي. ژبنیزه ویناغونډله له پرېکړې سره وینا د سایکولوژیک کړنې( اکت) او اونتولوژي په څېر لیرډوي، له فکر(فرېګې: یو فیلوسوف سره، د شیڅنګه والی (Husserl: *Wittgenstein I*) یا پروپوزېشن (englische Philosophie) سره.

د ،، غونډلې،، - ،،پرېکړې،، - ،، وینا،، په منځکې یو proportionalitäts- und attributionsanaloges وړاندیز اړیکي شته، داپه دې پرېپوهېدنه چې لیدنیزه ( په لید ولاړه) ( الماني، عربي، فارسي objektive هدف، واقعګرایانه) پرېکړه. فکر ( وینا، پروپوزېشن) به په فکرکوني ( سایکولوزیکې پرېکړېکونی) را تول او په یوه ویناِغونډله کې وویل شي. ویناغونډلې له دې امله په یوه ورته موخه په لیدنیزه ویناخوندیونې همداسې سایکولوژیکې ویناکړنې، او په څټ تړاو لري. په زیاتو اړوندوالو کې له دې امله یوه نږدې توپیر ته نه راځي. پېژندپوهنې پسې لوریزوالی کېدی شي اړونده ترمینولوژي ته لومړیوالی ورکړل شي. د لاس ته راوړوني لپاره په دې پرېپوهېدنه چې دا، چې په هغې شي اړوند په همغه خبرې وشي، که د کومو پېژندتیوریو وړاندنیونو سره هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Behauptung غوښتنه (عربي: ثبوت)**

له Frege(فیلوسوف) سره دې یوه وینا د یوې وینا له غوښتنې سره توپیر شي: ،، په یوه غوښتنه کې دې دوه ګوني ( یا دوه پرېپوهنیز-معناییز)) سره توپیرشي: منځ پانګه، چې هغه د اړونده غونډلیوښتنې سره موخه وه، او غوښتنه. هغه دا فکر دی یا لړترلږه فکر خوندي لري. نو دا کېدی شي، چې یو فکر ووایي، داسې چې سږی ټوټه –ونوالی ونه ویني. موږ د دې له مخې توپیروو

١ - د فکر رانیونه – فکرکونه

٢ – د یوه فکر ریښتیا پیژندنه – پرېکړه

٣ – د دې پرېکړې ښرګندونه – غوښتنه

ارزښتپرېکړه یا – قضاوت **Werturteil**

د ویناسم اند لپاره دا غوره دی، چې ایا خوی یوه ارزښتونه خوندي لري، داپهدې پرېپوهېدنه چې وینا یوه ارزښتپرېکړه ده.

د فورمال سم اند (Formale Logik) لاندې په ټولیزه توګه یو سم اند پوهېرو یا په نخښنه کېږي، چې دا د سم اندیزووینابڼو منځ کې او د رابیلیدنې په باورې کېدو او د دې پسې لاس ته راوړنو اړیکو بڼو منځ کې بوختیږي. په دې تنګې یا نږدې یا راټولې موخه په ټوله کې سم اند داسې په نخښنه کېږي، چې دا د ویناو اوپایلاسته راوړنو یو په دباندنۍ بڼه (فورمال) انځور کاروي.

یا دا: د فورمال سم اند په ورشوکې انتیتیزې د هغې د اړونده تیزې په نه-والي کې پوهیدل کیږي. تیزې یعنې پ پورې انتیتیزې هم اړه لري (،، نه پ). د انتیتیزې ربښتیاوالی ،، ناسم یا نارښتیا،، دیٔ تر هغې پورې چې همغه تیزې ،، رښتیا یا سمه،، وي، او په ښټ. له دې امله هرې انتیتیزې ته ټیک یوه تیزې شته. تیزې او انتیتیزې نه شي کیدی هممهاله ،، رښتیا،، او نه هممهاله ،،ناسم یا نارښتیا،، وي.

بیلګې:

تیزې: دا کور سور دیٔ.

انتیتیزې: دا کور سور نه دیٔ

تیزې: سپین په ١٣٠٦ کې مړ شو.

انتیتیزې: سپین په ١٣٠٦ کې مړ شو ی نه دیٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا قناعت بیرته د فیلوسوف هیګل تریادي Triade تیزې، انتیتیزې اوسینتیزې ته ځي.

پراګماتیکي: د هغې کړنې کړنه ده چې اړیینه وي باید وشي او ښوول شوی وي، چې په رښتیا کار ورکوي یا په رښتیا کیدی شي.

لنډ: هغه څه چې کړوني وي، باید وشي

**Aussageform** وینابڼه

وینا( ویناغونډله) دې له وینابڼې توپیر شي. یوه وینابڼه یوه ویېنه ده، کومه چې یوه ( یا ډېرې ) خپلواکې اووښتونې (واریابلې، که غواړئ متحولې) ( تش ځایونه) لري او د ټولو خپلواکو اووښتونو په ځای ایښوونو یا بدلېدنو سره یوه (ریښتیا یا ناریښتیا ) وینا کیږي. وینابڼه وینا کیږي یا په وینا بدلیږي، کله چې اووښتونې واوښتل یا بدلې شي.

**Wort ویې**

یو یوګونی ویې ، چې د یوې وینا لپاره نه دی ځای په ځای شوی یا نه دی ایښول شوی، ،، دا نه وایي،، دا نه وایي چې دا وینا،، ریښتیا یاناریښتیا ده،،، ،، ټیک که د لنډښت لپاره یو ویې د یوې غونډلې لپاره ځای په ځای شوی وي، نو کړی شو دهغه له ریښتیاوالي او نارأښتیاوالي څخه و غږېږو،،.

**Begriff** کلمه

دا چې د ویې د رابندوالي ویل شوي ورته د کلمې لپاره باور لري:

د هرې کلمې و شاته یوه یا ډېرې ویناوې ځای په ځای دي، کومې چې د خپلې منځپانګې پېژند ورکوي او دا کلمه د نورو سره یوې اړیکې کې راولي. ،، له دې امله مو کره کونه، چې کلمه په خپله منځ پانګه کې د نخښو یو یووالي دی، لاربښودوي یا بیایي، فکر ته، چې هره کلمه د ویناوو ګډې اړیکې انځوروي.،، دا په ځانګړې توګه د Cohn اوFrege له خوا یا په اند ویل کېدل، چې کله به یې وویل، چې یو ویې یواځې په یوه غونډله کې پرېپوهېدنه یا معني لري.

**Schluss** پایونه

،، هره وینا، چې په هغې کې یوې الي یا شي ته څه ورکړل شي، سرې کړی شي دا د یوې پایونې په څېر وګڼې، چې د هغې نیونې د پوښتونې شي وینا پېژند ورکوي او هغې پېژند ورکړ شوي کلمې ته یو خوي ور کړي او یا ترې واخلي.،،

## Arten von Aussagenویناډولونه

**Einfach – zusammengesetzt ساده – یوځای شوې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویناوې کېدی شي په ساده ویناو او یوځای اینښول شوو ویناو باندې ووېشل شي. وېشنلامل یې دا دی، چې ایا وینا له یو بل توپیرورې، ځانله کولوړ، برخویناوو څخه یوځای اینښول شوې او که نه.

بېلګه: ،، کابل یوښار دی،،( ساده وینا)، ،، کابل له اوه میلیونو څخه د ډېرو اوسېدونکو یو ښار دی،،

سم اندیز یوه یوځای اینښولشوې وینا د برخویناو ،، کابل یو ښار دی،، او ،، کابل له اوه میلیونو څخه ډېر اوسېدونکي لري،،)

*Terminologie* یا مسلکي ویېنې ردبدل کیږي: د ،، ساده وینا،، په ځای سرې ،، د یوځای نه اینښول شوو ویناو،، ، ،، اتومي ویناوو،، ، توکیزو ویناو،، هم غږیږي یا ،، توکیزه غونډله،، .(Wittgenstein).

له یوځای اینښول شوو وینا په ځای دا لاندې هم وایو: ،، د ویناو تړنه،، یا ،، مولیکولي ویناوې،، . په شمېرپوهنه او همداسې فورمال سم اند کې اتومي ویناوې دي، چې له نورو ویناو څخه یوځای نه دې اینښول شوې. دا ویناتړوني سم اندیزې نخښې ( تړننخښې) لکه ∧ ( او) ، ∨ (یا) او ¬ (نه) نه لري. مخامخکلمه یې یوځای اینښولشوې وینا یا ویناتړنه ده.

د بېلګې په توګه چې وینا لرو ،، کوڅه لمده ده او ورینګي وریږي،، په دوه ویناو وېشو یا بېلوو، د ،، او ،، سره یوې وینا ته سره تړلي دي، داسې یوه بېلېدنه په یوګونو ویناو کې ،، کوڅه لمده ده .. ، چې د ،،او ،، ورینګي وریږي،، نوره کېدونې نه ده. نو له دې سره داسې ویناوې اتومي ویناوې بلل کیږي. د یوې وینا سم اندیزې شننې سره

**د اتومي ویناو لپاره بېلګې( ارزښتونسم اند)**

ترمونه t=s د په خوښه t , s لپاره

R(t1, …., tn) د n-ځایز, اړیکو او په خوښه ترمونو t1 ترtn پورې. په یوه ساده ویناکې یوه یوه شي یا الې ته یو یواځني ورکول – یا ترې اخستل کیږي. که دا وبلل شي، چې یوه ساده وینا نوره جوړښتیزه نه ده، نو به داسې وپوهیږو، چې د وینا دننني حوړښت نور نه شي تیک ویل کېدی یا روښانه کېدی.

د اتومي ویناوتفسیر یا روښانه ونه د هغه د ریښتیا ارزښتوالي له لارې تنظیمیږي.

د ساده ویناو لپاره سیمبول د کنونشن یا ټولیزې پرېکړې پوښتني دي.

د دې لپاره ورځني د بېلګې په توګه دسترو لاتین تورو کارول، A, B, C, دي په ورکړل شوي حالت کې د ترې لاندې لیکلي توري یا پېژندنخښې دي.

یوه ګډوله یا یوځای اینښولشوې وینا د ډېرو ساده ویناو له ترنو څخه جوړه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د یوې ویناترنه کېدی شي غزېدونکې ( غزېدونکې ویناترنه) یا کلکېدونکې یا کښېکاګونکې ( کښېکاګونې وینا ترنه ) سرته ورسیږي.**

غزېدونکې ویناترنې سره یوځای شوې ویناوې دي، چې د هغوی ریښتیاارزښت د هغې له برخویناو څخه ټاکلې دي. د ټولوینا ریښتیا ارزښت له دې امله د برخوویناو ریښتیاارزښت فنکشن یا څېرونه ده. ( ریښتیاارزښتوالي فنکشنالیتي).

سم اندیزې همغه یا ثابتې، چې هغه ریشتیاوالي فنکشني اغیز ښندي، ترننخښې [Junktoren](Junktoren) بلل کیږي.

کلاسیک ویناسم اند یو نړتنخښیز سم اند ,(Lorenzen) دی، د ویناو یو،، د پراخېدنوالي اصولو سم اند،،(Quine). دا پر پراخېدنوالي اصولو باندې ودانه ده.

یو ځانګړی حالت د نه والي حالت [Negation](Negation)انځوروي. دا د ډېرو ترمینولوژیکو بنسټونو له امله. په نه والي کې ویناوې نه سره تړلکیږي او دا له دې امله ویناترنې نه دي. دوي همداسې له ترمینولوژیک سادونې له امله یوځاییزې ( چې یو ځای لري) ویناترنې بلل کیږي. دوی د وتون ارزښت ریښتیا سره ارزښت ناریښتیا ورکوي او په څټ.

ترمینولوژیکې سم دلته ویېنه یوځاییزه رښتیاڅېرونه یا رښتیافنکشن برېښي. د دوه ویناو د ګډوله کونو لپاره شپاړس یونکتورونه یا ترننخښې شته دی. د ټولو کېدونکو ګډوله کونو لپاره له رښتیاارزښتونو یو د دې ترنو لپاره تیپیکې لاسته راوړنرښتیاارزښت ورکوي. د بېلګې په توګه له ترننخښو سره د تړلې وینا *a UND b* (a او b ) ټیک هلته رښتیاده، چې هم a او هم b رښتیا وي، په هر بل حالت کې ترنه نارښتیا ده.

اینتنزیونالې **Intensionale** ( ځان ورسره برابرول یا – اعیارول) ویناترنې رښتیافنکشنلې ویناترنې نه دي. له دې سره د ټولوینا رښتیاارزښت د برخویناو د رښتیا ارزښت په واک کې نه دي.

بېلګه: ،، سپین د سم اند یو کتاب لولي، ځکه هغه سم اند ډېر په زړه پورې مومي یا بولي،،.

### **analytisch – synthetisch شننیزې – جوړښتي ویناوې**

ویناوې په ورځني ژود کې په شننیزو ویناو او جوړښتیزو - یا مصنوعي ویناو باندې وېشل شوي. د ،،وینا،، په ځای په همغه موخه له ،، غوندلي،، همداسې ،، پرېکړې،، هم غږیږو.

### **Analytische Aussagen شننیزې ویناوې**

شننیزې ویناوې په راتنګه موخه دي ،، ویناوې، چې په اړینه توګه ، دا په دې پرېپوهېدنه چې په ټولو ممکنه نړیو کې، رښتیا ذې ځانله د هغو د سم اندیزو بنسټیزو بنو له مخې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوي رښتیاوالی بې د هغو پر تجروبوي ازمايښنو باندې کره کېدونکې دي،،. دوي له دې امله سم اندیزه توتولوګې( تل رښتیا ویناوې) ده.

بېلګه: لمر ځلیږي، یا لمر نه ځلیږي.

په پسې موخه ،، داسې ویناوې دي، چې د هغوي رښتیاوالی د هغوي له مصنوعي جوړښت او د هغو پرېپوهېدنوالي د هغوي د ژبنیزو توکو په واک کې ده. هغوي په سیمانتیکي اړیکو لکه همغه پرېپوهنیزبرابروالی [...] او پرېپوهنیزپایونه [...]،،. له دې سره دا یو څیرکلپایونه( ګردی پایونه) Zirkelschluss په ګوته کوي.

بېلګه: خور –ورور خپلوان دي.

Tautologie

یوه تاوتولوګي په سم اند کې یوه تولیزه باوري وینا ده، دا په دې پرېپوهېدنه چې یوه وینا، کومه چې د سم اندیزو لاملونو په بنسټ تل رښتیا ده. د توتولوجي لپاره بېلګې دي، لکه ،، که وریښږي وریږي، نو ورینګې وریږي،، یا ،، دا هوا بدلیږي یا داسې پاتیږي، لکه څنګه چې ده.،،

### Synthetische Aussagen جوړښتي یا مصنوعي ویناوې

په پراخه موخه د اریستوتالس له لورې تولې ویناوې( پرېکړې)، داپه دې پرېپوهېدنه چې یوه ،، د سینتېزې له کلمې څخه،،.

په راتنګه، واکمنه موخه (کانت (فسلوسوف))،، په رښتونې حالت باندې وینا وې، چې رښتیاوالی یې نه ځانله د سینتاکتیکي یا سیمانتیکي جوړښت بلکه پرته له ژبې او له دې امله تجربوي ازماېښتي دازمايښنې فاکتورونو او تجربو په واک کې دی.\

د توپیروني یا توپیرېدنې کریتیک

د شننیزې او مصنوعي ( جوړې شوې) وینا په منځ کې د توپیروني یا توپیرېدنې سموالی د Quine ( امریکايي فیلو سوف) لخوا د څېړنې لاندې ونیول شول. هغه د پرېپوهېدنې ناټاکلوالي تیزې پلوی وو او دا بنسټ یې د پوښتنې لاندې راووست، چې د کلمې پرېپوهېدنې تیز یو له بل رابندېدلی شي، دا په دې پرېپوهېدنه، چې منځ کې یې پولې ایندول کېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګه: ،،ټول Rappen ( د تورو اسونو يو ډول دی) تور دي،، مخامخ يې ،، ټولې کاغۍ تورې دي،،. دا چې تور يوه د پرېکړې نخښه ده، چې راپن له نورو اسونو بېل کړي، دا يوه شننيزه وينا ده. ايا د ،، کاغيو،، بې له تور د کلمې پرېپوهېدنه موخې ته رسېدونکې ده – نو سپين هم ( د بېلګې په توګه Albino vogel) د نورو همهغو پېژندنخښو سره دې کلمو ته ګڼل کيږي – يا ايا کاغۍ هم د تور له لارې پېژند لري ياپېژندل شوې دي، کوين هم دا پواځني نه شو ټاکلی. په ختم کې کاغۍ هم د يوه د کلمې په توګه د يوه پيداېښتي ډول لپاره کارول کيږي، خو ايا د دې ډول ټولې يوګوني تور وبرېښي، له دې امله دا يوه تجربوي پوښتنه ده.

## وينا په ويناسم اند کې

په ويناسم اند کې داسې ويناوې پواځې ياتيک د هغې فورمال او نه د هغې منځپانګيز رښتياوالي ارزښت غوره دي.

د بېلګې په توګه: سړی بايد له شننيز شيحالت څخه پوهه ولري يا په شي حالت وپوهيږي، چې د وينا په رښتياوالي ارزښت ،، برلين د جرمني پلازمېنه ده، او روم د ايټاليا پلازمېنه ده،، پرېکړه وکړی شو، دا د وينا لپاره غوښتوني نه ده، چې ،، مادرېد د سپانيا پلازمېنه ده، يا مادرېد د سپانيه پلازمېنه نه ده،،، ځکه چې د سم انديزي ،،يا،، او ،، نه ،، د کاروني کره کوني وروسته ( نورميروني Normierung) دلته د خبرو يوه رښتيا، له دې خپلواکه وينا ده، چې ايا مادرېد په رښتيا دسپانيا پلازمېنه ده يا نه. يوه په دې موخه فورمال رښتيا وينا به <u>ټوليزباوري</u> ياهم <u>توتولوژي</u> وبلل شي.

## وينا په پرېديکات سم اند Prädikatenlogik کې

په پرېديکات( د يو څه د څرنګوالي ارزښتونه) کې يوه وينا يوه وينابڼه ده بې له خپلواکو اووښتونو.( په دې کې ټولې اوښتونې د کوانتورونو يا نخښو سره تړلې.)

په پرېديکاتسم اند کې د يوې وينا رښتيا ارزښت په هغې د خوندي سيمبول له Interpretation روښانوني مخې ورکول کيږي.

د بېلګې په توګه يوه وينا x=x+x په لاندې توګه ميندلکيږي: د هر x لپاره دې ترم x اوx+x وشمېرل شي. که يو x شتون ولري يا شته وي، چې دواړه ترمونه همغه ارزښت ولري ( د بېلګې په توګه د 0 = x لپاره)، نو وينا رښتيا ده، په بل ډول نارښتيا ده. نو له دې سره رښتيا ارزښت د بنسټېرې په واک کې دی. چې د اوښتونې يا وريابلې د په ځای کونې ډېرې څخه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يوه پايونلار** د فورمال سم اند په يوه شمېرنه کې بنه بدلونلار يا – قانون په ګوته کوي، داپه دې پرېپوهېدنه چې يوه جوړښت يا مصنوعي لار، چې د هغې له مخې کېدی شي يا اجازه ده، د نورمال ژبې د يوه شته ويېنو نوو ويېنو ته لاړ شو. دا لاربښونيزه تلنلار يو پايونلاس ته راوړنه انځوروي.

د Ernst Tugendhat (فيلوسوف) له خوا تولي شننيزي غونډلي د ausgeschlossenen Widerspruch ( پرته يا ناشوني له مخامخوالي) په غونډله ودانې دي. دوی د ناسموالي صربيونهFalsifikatoren نه لري.

د مخامخوالي يا ردوني غونډله يا د ناشوني ردوني يا - مخامخوالي غونډله وايي، چې دوه يو د بل په خپله ختَه کې د همغه څه - خونديوني ردوني ويناوې په همغه وخت کې نه شي پيښېدلی. د فلسفي - او پوهنتاريخ د وخت په تېرېدو سره او له بېلا بېلو تيوريکي نظريو اړوند او له بېلابېلو ډولونو د اونتولوګيزې ontologisches پېژندتيوري او د سم اند اصول پوهېدل کيږي.

اونتولوجي د فلسفي يوه لار يا ديسځپلين دی چې د شته والي (يل؟؟) او رښتياوالي بنسټجوړښت سره بوخت دی، د بېلګې په توګه: کلمه لکه شتون، يل، به او رياليتي.

د کريتيک Kritik سره يا څخه سرې د يوه شي(الي) يا يوې کړنې باندې د کچون-الو په متَه يا لاس پرېکړه کيږي. لکه فيلوسوفهAnne-Barb Hertkorn روښانه کړې، چې کريتيک دې له دې سره ،، د فکر او هوښيارتيا بنسټيز فنکشن دی او تر هغې پورې چې دا په خپل فکر و کارول شي او شتونپېژندنځبنه چې پر باوريوالي باندې دعوه کوني پرېکړه وشي.،، دا د پرې پرې کوني باندې د انساني کړنتوان غوره هنر دی.

---

## دريم: سم انديز- فلسفي وييونشننه

### Vernunft هوښيارتيا

ما ورته هوښيارتيا ويلي په پای کې يې روښانه ونه.

د يوې ژبې په بله ژبه ژباړه هم د يو لړ ستونځو او پرېپوهېدنو سره په جنجال کې ده، خو سرې بايد په دواړو ژبو ښه وپوهيږي.

هوښيارتيا Vernunft په ورځنۍ کارونه کې د فکر يا اند له لارې و پېژندني ته يوه ټاکلې اروايي انساني بداېينه په نخښه کوي. د کريستيان وولف په ترمينولوژي تکيه کارونه له پوهنتوان Verstand څخه رابنديږي، چې هغه کتنو او تجربو شي حالتونه رانيسي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې و هوښيارتياتوان وربخښي، چې ټوليز سره اړوند باوري پايونلاس ته راوړنه راوتړي، د هغې کتنې وپېژني او لارې همداسې اصول ورته کېږدي يا لارئ ورته وټاکي. ترهغې پورې چې دا کړه وړه، ارزښتټاکنې Wertbestimmungen يا د اخلاقو اړوند سړی د عملي هوښيارتياغږېږي او د دې کلمې لاندې د پرينڅيب و بداييني ته کړنتوان چې خپلې غوښتنې وټاکي، ورزياتيږي.

څکه چې په پېژندنو او پوهنو ودانه کارونه تيوريتيکي هوښيارتيا بولي. رياليتي بېرته د ،، هوښيارتياوالي،، کلمه ده، چې د غوره والي ( په لږ څه ډېر لاس ته راوړل) د اقتصاديوالي او اقتصادي اصولو هم د حقولي يا اخلاقي خبروDiskursethik په لور لوريزېدی شي.

د کليمې هوښيارتيا منځپانګه په بېلابېلو ډولونو ټاکل کيږي.

د پېژندنې کلمې ته پوله لرنې د پوهېدنتوان کلمه نن د ټولو حالتونو لپاره کارول کيږي، په کومو کې چې فينومېنونه(١) ځانګړي څېړل کيږي، له لويو په بر کې نيولو ګډاړيکو را بېل شوي. په ورځنۍ ژبه کې دواړه کلمې نه کره يو له بل سره توپيريږي.

(١) پېژند: Phänomen (نوم) هغه څه چې ځان ښرګندوي، احساسوي( هکپکړکونکې ښرګندېدنې):

،، فزيکي، ميتيورولوجيکي، کمپيدا، ورځنۍ ښرګندېدنې. پيداېښتونه او نور

فلسفي: ښرګندېدونکی، احساسونکو ته ځانښودونس، ځان پېژندنې ته وړاندې کېدونکی شعورمنځپانګه. پای.

په ورځنۍ ژبه او هم د فلسفې په تاريخي کې د ، هوښيارتيا،، په نخښه کونه ډېرې پرېپوهېدنې لري، چې يو بل غوڅوي، دا په دې پرېپوهېدنه، چې ګډغوڅی لري. له يوې خوا دا د پېژندنې او پېژندنګټېنې يا لاس ته راوړنې لپاره بنسټ کيږي، داسې چې دا يو سيستماتيک او يو اړوندونورشو د پوهې لپاره وړاندې کوي. په ورسره بلده توګه هوښيارتيا له پوهېدنتوان د پېژندنبداييني يا د ډېرو بېلابېلو کوګنيټيو*(٢)* توانوالي په ښېر يا ګډاغيز په ښېر توپيريږي. بلې لور ته هوښيارتيا د هوښيارې کړنې په پرېپوهېدنه کارول کيږي. په دې موخه هوښيارتيا يو نورماتيو، فلسفي ايتيک ( normative, philosophische Ethik) مدلل کوي، چې بل حالت ته د تګ اجازه نه ورکوي. لکه چپ قضا کې. دا به نور دلته بس کړو.

دلته خبرې نورې ايدياليزم او ماترياليسزم ته وځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې وروسته به نورې دا دلته په ليکنه راغلې اړونده ليکنې راوړو:

Der Verstand پوهېدنتوان

پوهېدنتوان په فلسفه کې، بډايينه ده، چې کليمې جوړې کړي او دا (ربښتيا) قضاوت سره وتړي.دا اوس د دې کليمې کارول د ايمانول کانت له لورې پراخه شوه، چې هغه دا پوهېدنتوان ډېر وخت د هوښيارتيا مخامخ ودراوه او هغه يې له احساسونې هم توپير کړ.

**Vermögen** ( زړه يوناني *dýnamis*, δύναμις [لاتين](#)*potentia* پښتو: بډايينه )

بډايينه، توان، ديناميک د انتيک منځنی يا زړي کلمه ده، په ځانګړې توګه د اريستوتالس په فلسفه کې.د اريستوتالس په فلسفه کې دشی يا نوم خويونه په نخښه کوي، چې په خپل ځان کې يا يو بل څه کې د بدلونونو ټاکلی ډول راوستلی شي يا کېدونکي (ممکن) کولی شي. دلته خبره په دې کې ده، چې د بدلونونو له لارې، که رامنځ ته شي يا راشي، نو يو نوی څه منځ ته راځي او له دې سره يې شتون شته کيږي( له دې امله بډايينه يا څه لرنه). له دې سره يو څه ربښتونی کيږي، چې هغه د مخه يواځې توانيز – لکه د کېدونوالي په څېر – شته وو. د اريستوتاليس د موخې سره سم د مخ ته نيول شوي ( چې ګوندې بايد وشي) د کړنې او توان توپيرونه د توان بډايينه – د شته کېدلو کېدنوالی – د کړن ( يوناني Substantiv پښتو: نوم) په مخامخ ربښتينوالي.

د يوه شي خوي د يوې بډايينې ځانګړتياوې په ګوته کوي، چې دنورو خويونو په توپير بنسټيز ناکتنوړ ( ښه يې : ناڅاروړ) وي. احساسونه ټيک د هغې (يا هغې ته) اړوند ليکل شوې اغيز رامنځ ته کېدل دي، نه پخپله د دې بډايينې شتونلرنه. له دې امله دېره سره د منلو نه وي، چې دا وی ،، بډايينه،، د ټوليزو اړيکو لپاره مساعد وي. کريتيکوال په اند دي، چې دا کلمه ټيک د لړوختنې بلل يا په نخښه- ونه ده، نه د پوره کتنې کوزال – يا لامل-اغيز- اړيکو( کوزال اړيکې وګورئ) لپاره.

Kausalität causal relationship علاقة سببية ، رابطه علّی;لامل - اړيکه
کوزاليټي د لامل او اغيز په منځ کې اړيکې دي. هغه د پېښو او حالتونو پسې راتلنې په ګوته کوي، چې يو بل سره اړوندوالی لري. له دې پسې A يوه لامل دی د اغيز B لپاره، که B له A .

Wann ist eine Handlung kausal?

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو بوختوالی یا کړنه کله کوزال یا لامل-اغیز ناکه ده؟

یو بوختوالی کوزال دی، چې له هغې پرته فکرکړنه نه شي کېدی، بې له دې چې څرګند یا لیدوړه بریا په کې نه وي. دا بریا ابجکتیو ګڼلوړ ده، که دې کړنې یا بوختیا یو حقوقي نامنلوړ خطر منځ ته راوړی وي.

Kausalzusammenhang (نوم: لامل-اغیز- اړیکي ):

په ځانګړې توګه فیلوسوفي سم اند

د پېښنو په لامل او اغیز ودانو اړیکو په اصول یا لارو .

،، د دې پېښنو په منځ کې یو لامل اغیزمن اړیکه شتون لري یا شته دی،،.

د لامل-اغیز- اړیکې څه شی دی؟

که د دوه نخښنو په منځ کې یوه د لامل او اغیز په منځ کې یوه اړیکه شتون ولري، نو سړی د له کوزالیتې ( لامل-اغیز-اړیکو) غږیږي. Korrelationen کړی شي په لامل-اغیز- اړیکو ته یوه لار وي. که څوک یو څه ډېر سکوي( پېژندنخښه X)، یو جګ ریزک لري چې د سږو سرطان ( پېژندنخښه Y ) باندې ناروغه شي.

Korrelation : یو کوریلاشن یوه شننه ده خو د لامل-اغیز-اړیکه په یوه یا بله لور، داپه دې پرېپوهېدنه چې له یوه توانمنې اړیکې لاسته نه راځي، چې یواځنی لامل-اغیز-اړیکې شته.

بېلګه: له حقیقته، چې په ووړې کې د خوراک یخخرڅلاو ډېر وي، لمرسپزنه ډېره رامنځ ته کیدی شي.

**Kausalität کوزالیتې** په دې پرېپوهېدنه، چې د اوښتونو(Variablen ) په منځ کې یو روښانه لامل-اغیز –اړیکې شته وي. په نورو ویونو کوزالیتې هلته مخ ته لرو، کله چې ته پوره پوهېږې، چې کومه اوښتونې کومه اوښتونې اغیزمنه کوي.

**Gedanke** فکرتوان: یو فکرتوان یا اندتوان دی، په څه چې فکر شوی یا په یو څه چې فکر کیږي، یو اند، یوه لیدلورې یا یوه پېښه همداسې یوه کلمه یا یوه ایدې ده. فکري توان د فکر په پروسه کې یوه لاس ته راوړنه او یوه بنسټبرخه ده. فکرتوان د یوې پرېکړې، یوې کلمې یا یوه له دواړوګډوله فکرپروسې بنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: پام دې وي، چې موخه مې فزیکي مخ نه دی. دا پسې هم. وروسته به روښانه شي.

دا ورته مخامخ مخ دی. دا مخامخ همهغه د مخ ویې مخ نه دی، نو هرو مرو سره بېل دي. دې مخامخ ته مخ په مخ هم ویل کیږي ( دا وروسته وګوری. دلته دپوښتنې لاندې راځي یا موخه انډول) نه دی، خو په دې پرېپوهېدنه، چې دلته دا لومړی مخ او دا بل یې بیا هغه بل مخ یا مخامخ مخ دی. دا مخ له یوې خوا نوم او له بلې خوا خوي نوم او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړوني کړنوي په ځای هم راځي لکه مخکېدل یا ـ کول او مخامخ کېدل یا ـ کول ـ چې وروسته به روښانه شي- دی او بیا دا لوریزوالی په ګوته کوي. دا لورې هغه لور، چې مخ -، څټ ـ یا شاـ ، ښي- ، کیڼ لور په ګوته کوي. دا مخامخ لور همهغه لور ده لکه په څټ لور یا په شا لور نور به یې نه غزوو همدا به روښانه کړو.

د مخ لور په مخ یا همداسې په څټ لور دا مخامخ لور ده، او یا همداسې دا دا د مخ لور په څټ لور یا دا مخامخ لورده ( لږ فکر غواړي او ک کېدی شو بیایې په غشو سره وښایی).

-- دا دواړه ځای اړوند ویپندولونه هم نه دي، دا پوره خپلواکې معیاري ویېنې او وییونه دي.

کېدی شي، چې د دې لیکنې هره برخه سرې د راوړلو بېلګو سره وڅېړي او دا روښانه کړي، خو دا به ډېر وخت ونیسي.

یوه یادونه: هېڅ وخت د یوې ژبې ویونه په بله ژبه هغسې مه ژباړی یا نه ژباړل کیږي، چې د وتونژبې د ویې هره پرېپوهېدنه مو په پام کې نه وي نیولي. لکه ،،مخ،، که غواړئ په فارسي واړوئ، نو یو دا فزیکي مخ دئ او بل یې دا لورزیزوالی، دریمه پرېپوهېدنې یې بیا پسې تړي – کېدل سره مخکېدل یا مخامخ کېدل هم لرو. په فارسي کې بیا دې لوریزوالي ته فکر نه دی شوی او دا بیا پیش روي یا ( سم په فارسي، چې نه پوهېږم، کېدی شي، سم یې ونه شم ویېلی) څنګه وي.

مخ، مخامخ یا مخ په مخ او هماسې مخ – یا مخامخ کېدل، څټ، څټ په څټ یا شا ، شاپه شا ورته وییونه دي، خو د مخ او مخامخ ویونو په څټ ویونه دي. په بخښنه. داسې را څخه لږ پېچلې کیږي.

هغه غوره بېلګې یې:

۱ ـ سپین مې و مخ یا مخې ته روان دي.

۲ الف – سپین مې و مخ یا مخې ته را روان دی یا

۲ ب ـ سپین مخامخ راروان دی.

په ۱ – کې: د ما او د سپین لور همغه ده، خو په ۲ الف– کې را روان مخامخ دی او ۲ ب- کې خپله دا حالت مخامخ حالت دی.

که په ۱ – کې زه له سپین څخه تېر شم، نو سپین بیا په ما پسې را روان دی، خو لور مو همهغه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ۲ الف – کې سپین له ما تېر شي، نو بیا سپین د ما شا ته روان ( دلته ګوره را روان د روان مخامخ دی) او نه راروان، داپه دې پرېپوهېدنه، چې نور هم سره شا په شا لرې کېږو. دلته هم لور همهغه مخامخ ده

که ۲ ب – کې سپین له ما څخه تېر شي، نو بیا سپین د ما په څټ ځې یا روان دی. لور ساتلې ده.

غوره یادونه: دې ته دې هم پام وي، چې مخ په مخ هم (نږدي) په همدې اړوند کارول کیږي، خو دلته یې توپیر دا دی، چې دا دوه یې مخونه (فزیکي)، دا په دې پوېپوهېدنه چې نومونه دي او دا ،، په یا پر ،، ترنویي دی، چې دا دوه مخونه یو ،، په یا پر،، باندې پرېباسي. که موږ دوه څېرې ولورو او دا دوه څېر یو پر بل داسې واچوو، چې د یوه مخ د بل پر مخ باندې واچول شي، نو دا ،، مخ پر مخ،، دي او باید د دې نورو مخامخ او مخ یا دا لاندې یادونه:

یادونه: موږ وایو: د کور مخ ته یا د کور مخې ته ، د کور ومخ یا و مخې ته دلته دې مخ، مخې ، د مخې او همداسې دې نورو ته دې هم پام وي.

## دویم: د پښتو دا تراوسه لرلې ستونځې:

دویم ۱:

ستونځه دا ده، چې په یوې وتلې ژبه نه – یا داسې ښه نه پوهېږو او خپله ژبه مو لاتراوسه په ژبه کې هم داسې د شننو ډېر څه نه لري او له دې امله بلې وتلې ژبه ته اړیو. او

دویم ۲: د موږ د پښتنو له ستونځو څخه دا هم ده، چې موږ په کومه دباندنۍ ژبه پوهېږو، خو موږ په ډېرو ویبونو په درې یاښه یې عربې پوهېږو او نه په پښتو. داپه دې پرېپوهېدنه، چې په فکر کې مو پښتو نه شته او موږ چې په درې یا عربي پوهېږو او ان چې نږدې خپل کړي مو دي، نو بیا یې پښتو انډول راته د ژبې د پراخېد و مخنیوی برېښي او لهدې امله یې دالاس ته راوړنه ده. زه به ووایم، چې همدا لامل هم دی، چې موږ لا تراوسه او یا پسې به هم د خپلې ژبې سره ستونځې ولرو. زه هم چې څه رانیسم، نو فکر مې په پښتو او الماني وي، خو دا چې هغه الماني مې موخه ژبه نه ده، د پښتو پرېپوهېدنه یې لیکم.

بېلګه یې هم دا مخ او مخامخ راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ په الماني او انګرېزي کې لرو: against ، gegen او د پښتو انډول ورته نه لیکو،همغه د درې انډول یې لیکو ضد یا مقابل. دلته مو هم د مقابل پښتو ته فکر هم باید رانه شي، چې بیا ګوندې تنګنظري ده، خو دا مو د خپلې ژبې وییونو پوهېدلو ته نه پرېږدي. دا ټول د پښتو د مخامخ انډول دي. که مقابل ته مو هم مخامخ لیکلی وی او یا مو ورسره ځانونه بلد کړي وی، نو بیا دا ستونځه نه رامنځ ته کېده، چې یوه ستره لیکنه مې پرې کړې او باور وکړی، چې لږ تر لږه مې په دې څو ورځې فکر کړی او دا ن ج لغاتکتابونو کې مې دا وییونه را پیدا او دا غونډالې رانیولې، چې تاسو ته وړاندې کوم.

دویم ۳: په هره ژبه کې یو ویي په بلې ژبې کې څو پرېپوهېدنې لري او په هغې باید ځانونه وپوهوو.

دویم ۴: لکه پورته باید د مقابل لپاره له خپل مخامخ څخه تې نه شو. موږ په پیداپښتې توګه نږدې د هر بلې ژبې ویي لپاره پښتو انډول لرو، نو که دا پښتو راته لږ ساده برېښي، هم پروا نه لري، ساده خو یو.

دویم ۵: په هره ژبه کې د هغې ژبې، په هغې ژبې یو ویی کتاب شته، چې ټول وییونه په کې په همغه ژبه ښه روښانه شوي او داسې نه چې د مخامخ په ځای مقابل ولیکي. موږ لا تراوسه دا کار نه دی کړی.

دویم ۶: ما چې خپلې لیکنې په پښتو کړي، خو همدا لامل دی، چې په خپله ژبه ښه پوهېږو او که نه؟ باید پرې وپوهېږو.

موږ دا څه چې لرو، که دا سم سره راټول کړو، او پرېپوهېدنې یې ښه روښانه کړو، نو دابه ډېر ستر کار وي.

بیا تکرار او تل تکرار:

که غواړو، چې په پښتو وپوهېږو، نو یوه پرمختللې ژبه مو باید ښهزده وي. دا مې درې ژبو ته هم مشوره ده.

او په پښتو چې ښې لیکنې وکړی شو، نو فکر مو هم باید په پښتو کړی وي. فکر سړی تل په هغې ژبې کوي، چې ستونځې ورسره نه لري، نو دا چې موږ ته پښتو کې ستونځې برېښي او یا په کې د کمې فکر کوو، نو فکر هم پرې نه شو کولی.

بیا یو څو غونډالې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-- زه په لار روان وم، ګورم، چې سپین مې و مخې ته راغي. سپین د کور و مخې ته ناست وو.

زه په لار روان وم، ګورم چې سپین مخامخ راغی.

دلته دا ،، مخامخ راتلل،، هغه د کړنوی کړونی دی

په پورته غونډله کي مخامخ ادپوزېشن دی او دا مخ - - یامخې ته راتلل کړونی کړنوی

زه په لار روان وم او سپین مخامخ و مخ یا ومخې ته راغی. ژبپوهان یا ژبمینه وال دې مرسته وکړي، چې کوم یې ادپوزېښن او کوم یې کړونی کړنوی دی.

## دريم: د نورو ژبو سره پرتله کونه:

په دې برخه کې به د ،،مخ،، او ،،مخامخ،، د نورو ژبو انډول راړو او انډولونې په مټه به یې پښتو ته پام راواړوو:

پښتو یې هم په ورسره بلده په پردي وییونو، چې زه به یې هغه پښتو پرېپوهېدنه راوړم او د ستونځوبیو لپاره به ګټه ترې واخلو.

**الماني، انګرېزي، عربي، درې او پښتو Begegnen، meet،** encountern، **تقابل** ، ملاقات،ملاقات کول

پښتو یې: مخامخ کېدل او همداسې مخامخ کول.

دا ما کړوني کړنوییونه او کېدوني کړنوییونه بللي یا دي.

د یو چا سره توکلي مخامخ کېدل،

**( jdm./etw. Dat ~) Verb Ich begegnete gestern einem alten Freund** vor der Bibliothek. I met an old friend yesterday in front of the library. Auf seinen Reisen ist er vielen Menschen begegnet. During his travels, he encountered many people.

زه پرون د کتابتون ومخې (مخ) ته د ما د ملګري سره مخامخ شوم. هغه په خپل صفر کې د ډېرو کسانو سره مخامخ شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته غونډله کې ،، مخې (مخ)،، اډپوزېښن دی او مخامخ کېدل کېدونکی کړنويي دی.

د پښتو او پښتنو ستونځه همدا ده، چې د يوې بلې ژبې څخه کوم وی، چې رانيسي، د هغې عربي يا په فارسي شوی عربي ويي باندې يې رانيسي، نو بيا يې هغې د خپلې ژبې ويي ته هېڅ پام نه اوړي، لکه دلته چې عربي پرېپوهېدنه يې را اخستې. دا دا هملته ،، مخامخکېدل يې پرېپوهېدنه راغلې وی، نو بيا دا ،،مخامخکېدل،، ته هم پام کېدلی شو، زه خو تل له دې امله وايم، چې خپله ژبه د نورو ژبو په وييونو غني کړی، خو خپله ژبه مه پردی کړئ.

په يو څه مخامخ اغيز کول. يو څوک چې يو ځای کې سياسي خبرې کوي، نو دا خبرې يې مخامخ اغيز کوي يا په مخامخ خلکو اغيز کوي.

- افغانستان د ډېر اوږده جنګ سره مخامخ دی.

- څوک چې ځنګله ته ځي، د ډار سره مخامخ کيږي.

- که مسؤلين د خلکو سره په مينه مخامخ شي، باور يې زياتيږي

- د افغانستان د دې حالت سره د مخامخ کېدلو اغيز په نړۍ، د دوي د ناسمو کارونو له امله هم ډېر وو.

- بايد فکر وشي، چې د دې حالت سره د مخامخکېدو څخه څنګه د روغې لپاره کار واخلو.

- په جلال اباد کې د سختې ګرمي هوا سره مخامخ شوم.

- د ستونځو سره د مخامخ کېدلو لار دې پرېښول شي.

- د دې لپاره د چې د اوبو د کموالي مخامختيا يا مخمخوالي څخه مو ځان ژغورلی وي، بايد د اوبو د لګښت سره پام وکړو.

- زه د هغه سره د ښونځي په لار تل مخامخ کيږم.

مخالف = مخالف = نقيض = Opposite= gegenüber

زه يې بايد سم په پښتو وبولم: مخامخ ( ځاييز)

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو چا يا يو څه ته مخامخ

Er saß ihr genau/schräg gegenüber.

he sat directly opposite [or facing] her/diagonally across from her.

هغه و هغې ته ټيک/ څنګيز مخامخ ناست وو.

- **Gegenüber** meinem Hotel war ein großes Plakat.
- **Opposite** my hotel, there was a large billboard.

د ما د هوټل مخامخ يوه ستره پلاکات وه. ياښه يي

دما و هوټل ته مخامخ يوه پلاکلات وه

د هغه مخامخ کس د هغه له خبرو بې اغيز وو.

Gegen against ضد; برابر

پښتو انډول يې: مخامخ

- کارول کيږي، چې ووايي، چې يو څه د يوه شي لور ښايي. هغه ختونی مخامخ ديوال ته تکيه کړ.

- کارول کيږي، چې ووايي( موږ يې ليکو، چې افاده کړي)، چې يو څه د يوه بل شي مخامخ اغيز شندي.

- لامبو وهونکی د څپو مخامخ زور کوي، چې تری تېر شي.

،، زه د هر زور مخامخ يم،،. ،، ته د اتوم انرجي پلوی او که مخامخ يې؟،، . ،، د لمر سوزنې په مخامخ پوره اغيزمن لمرکرېم شته.،،

before Vor ، قبل مخکې ( ښه يې: د مخه)

دا يو د بل انډول وييونه د يو څه يا کس لوريځوال په ګوته کوي، چې په پيل کې مو پوره څېړلي.

د الماني مخځاينيوی دی او د پښتو پسي ځاينيوی ( مرستې هر چېرته غوښتوني او اړيېنې دي)

کارول کيږي، چې ووايي، چې يو څه د مخ لور ته او دې اړوند کس يا څه ته مخامخ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د لږ سترګو رپ څخه د مخه تللی

پسې ځای نیوی.

ما دما بایسکل د کور و مخ ته درولی

(را) مخ ته: مشران را مخ ته شی.

-- ولې موږ د ،، مخ،، او ،،مخامخ،، سره داسې د (نه) پوهېدلو سره لاس او ګرېوان یو؟

دا ځکه چې موږ د خپلې ژبې ویونه پوره یا کم یا هېڅ نه کاروو او دا په دې وییونو کې هم داحالت دی. که موږ د دې وییونوانډول په دري، عربې کې کورو، نو همغسې یې منو، لکه دري چې دي او د باندنیو ژبو انډول یې هم په دې ژباړې منو، پښتو ته په کې پام نه کړو. دابه یې هملته په ،، د نورو ژبو وییونو ژباړه کې وکتل شو.

که موږ د ضد، مخالف یا مقابل یا تقابل او نور داسې انډول یا ورته وییونو سره مخامخ شو، نو د پښتو انډول ته یې هېڅ فکر نه کوو، ځکه چې دا مو منلې. له دې امله که د مخامخ کلیمې ژبنیزې روښانونې ته راشو، دامو هېڅ اند ته نه راځي، چې ګوند دا مخالف، ضد یا مقابل به هم له دې سره کوم اړوندوالی لري یا به ان چې ټیک انډول وي.

اړیینه پای یادونه: ما هم دې ته فکر وکړ، چې دا موږ د ،،مخ او مخامخ څخه غرېږو،،، چې دا څه دي، نومونه، خویونه کړنوییونه او که یا بل څه؟

کېدی شي دلته ،، مخ ،، نوم وي یا دی، خو دا ،،مخامخ،، ځاینیوی یا ادپوزېشن دی. دې ته دې فکر وشي، چې ګرامري څه دی، خو د نوم ،، مخ،، سره سر او کار نه لري.

د ما د لیکنې پای

څېړنوال محمد اصف احمدزی

"مخ" او "مخامخ" دوه هغه لفظونه دي چې هم په ورځنی محاوره او هم په لیکنو کې ډېر کارول کیږي. پوهان د دې دواړو لغتونو لپاره دوه بېل نظرونه لري. یو دا چې "مخامخ" چې په دري ژبه کې یې معادل (روبرو – رو در رو) دی، پر ځای یې "مخ" وویل او ولیکل شي؛ خو بل نظر بیا دا دی چې نه، هماغه "مخامخ" سم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لومړۍ نظريې خاوندان د "مخ" له کلمې سره ځکه توافق ښيي چې اختصار په کې دی، يوه کلمه چې هر څومره لنډيږي، په هماغه کچه ژبه ويونکو او لوستونکو ته اسانيږي. دوی وايي:

– زه ورسره مخ شوم.

– په ځنګله کې له خطر سره مخ شوم.

د دويمې نظريې خاوندان بيا وايي چې د "مخ" پر ځای بايد "مخامخ" وکښل او وويل شي، لکه:

– زه ورسره مخامخ شوم.

– په ځنګله کې له خطر سره مخامخ شوم.

د دوی په اند، "مخ" چې په دري ژبه کې "روی" او په انګليسي ژبه کې ورته "Face" وايي، نو په همدغه پورته ډول جملو کې په يواځې استعمال به يې معنا بې خونده او دا به داسې شي، لکه چې څوک ووايي: (ورسره مخ شوم)، مطلب دا چې (همراه اش روی شدم).

په «پښتو – پښتو تشريحي قاموس» کې د «مخامخ» معناګانې داسې راغلې دي: مخ په مخ، نېغ په نېغه(۱).

په «پښتو قاموس» کې د مخامخ معنا داسې ښودل شوې ده: روبرو، مقابل، مواجه.(۲)

دغه راز د دې لفظ نورې معناګانې «مقابل»، «مقابل لوری» او «مستقيم» هم دی.

البته د "مخ" کلمه خو جوته ده چې په دري کې ورته «روی» ويل کېږي.

زما په نظر، "مخ" د استعمال خپل موارد او مناسبتونه لري او "مخامخ" خپل. لاندې مثالونو ته ځير شئ:

1. په مخ يې ښکل کړ.
2. د هغه په مخ کې يې شاهدي ووېله.
3. زه تاته مخ نه لرم.
4. مخ يې ترې واړاوه.
5. د ځمکې پر مخ تر ټولو غوره مخلوق انسان دی.
6. مخ کعبې شريفې ته کړه او لمونځ وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



7. خپل درسونه پر مخ وړي، یا پر مخ بیایي.
8. د سالنګ لویه لاره د موټرو پر مخ وتړل شوه.

یا دا چې:

1. د دواړو په مخامخ ناسته کې یې ستونزه هواره شوه.
2. کمپیوټر ته مخامخ کښېناستم.
3. حکومت او مخالفینو د سولې مخامخ خبرې پیل کړې.

بله دا چې:

1. له احمد سره مخ/ مخامخ شوم.
2. خلک له ستونزو سره مخ/ مخامخ دي.

په لومړیو اتو مثالونو کې له لرې معلومېږي چې هلته باید د ‘‘مخ’’ کلمه استعمال شي او په همدې سره ویلی شو چې هم جملې منطقي دي او هم بشپړې افادې لري؛ په وروستیو دریو مثالونو کې بیا ‘‘مخامخ’’ ځکه استعمال شوی چې هلته یوازې د ‘‘مخ’’ کلمې په راوړلو سره جمله سمه معنا نه پیدا کوي؛ خو په وروستیو دوو مثالونو کې ‘‘مخ’’ او ‘‘مخامخ’’ دواړه استعمال شوي دي. د دې لپاره چې دلته له ‘‘مخ’’ (د دري ژبې روی) سره التباس نه وي رامنځ ته شوی، نو غوره دا ده، کله چې د (روبرو/ رو در رو) مورد کاروو، نو هلته د ‘‘مخامخ’’ کلمه راوړل به منطقي وي او که دا مناسبت نه وي، نو یوازې د ‘‘مخ’’ کلمې استعمال بد نه دي.

پورتنی موضوع زموږ په لیکلو ادبیاتو، شعر او نثر کې تر ډېره حده حل ده، هلته ‘‘مخ’’ په خپل ځای او ‘‘مخامخ’’ په خپل ځای کارول شوی دی.

رحمان بابا وایي:

مخامخ که راته وګورې دلبره

په کاته کې دې ثواب دی وبال نشته

***

چې سبا شي ستا تر مخ پورې شرمېږي

ځکه زیست په توره شپه کاندي مهتاب(۳)

خوشحال خان خټک وایي:

مخامخ دې په ثنا په صفت سر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلا بلا دربانديږ وايي پسې شا (۴)

***

ښکېنه په انګړ کې مخامخ چې درته ګورم

تور لونګين دواړه چندڼ هار په سينه ټال کړه

***

پس له بنده دی دا عزم

د خوشحال د خاطر جزم

يا نيولی مخ مکې ته

يا مغولو سره رزم (۵)

حميد بابا وايي:

مه اړوه مخ دلبره اوړي زما ورځ

مخ کړه چې مې شپه د درد و غم شي رڼا ورځ

مخ به ځنې کوږ که اوس دا ستا غونډۍ دلبر

خدای چې کړوي له بدبختی د چا ورځ(۶)

د حميد بابا معاصر قلندر وايي:

ما وې ته به زما مخ سپين کړې دلبره

ولې تا تر مهرويانو مې مخ تور کړ(۷)

فاضل (د دې شاعر معرفي په «پښتانه شعراء» او «کليد افغاني» آثارو کې راغلې ده) وايي:

مخامخ را لره راغلل په کوڅو کې

په ژړا يې سترګې سرې وې له خماره(۸)

اخوند مصری وايي:

که مخامخ شوم له خپل ياره سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دنیا به اواره کړم له روزګاره سره(۹)

محمد صدیق پسرلی وایي:

نورو پسې تګ سړی خړ مخی کړي

ګرد د لارې وګوره د شپون په مخ

پیرمحمد کاروان وایي:

بیا د کوم شهید په خېر دیدار ته مخامخ یمه
زه د مرګ په غېږ کې د ژوند ښار ته مخامخ یمه

څه وایي چې زه مو د ماښام ځنګل ته یووړلم؟
ختمې مې تیارې کړې نور سهار ته مخامخ یمه

شاه سعود وایي:

مخامخ راته د سر قاتل ولاړ دی

خو انسان دی پرې ګوزار کولای نه شم

یا دا لنډۍ:

مخامخ مه راته درېږه

زړه مې نری دی اوس به لاس در واچومه

***

مخامخ کېنه چې دې ګورم

چا دې صفت راته کاوه راغلې یمه

***

تر مخامخ ناستې دې ځار شم

دا تور کالي دې ښنګه خوند کوي مینه

***

مخامخ مه راځېږه لمره
مخ مې د یار په خولو لوند دی وچ به شینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

مخ دې د خدای له نوره ډک دی

زه د ثواب لپاره خولې پرې لګومه

د مختارالمناسک له اثره چې د مولوي ګل محمد مسلم تألیف دی، یو نثر را نقلوو:

"کله چې منصور حج وکړ، نو مدینې منورې ته راغی، د پیغمبر زیارت ته ودرېده، نو پوښتنه یې وکړه له امام مالک څخه چې مخ روضې ته کړم او که کعبې ته، یعني قبر ته مخامخ دعا وکړم او که مخ قبلې ته، شا قبر ته کړم، نو امام مالک ورته وویل چې ای منصوره! مخ څنګه ګرځوې له محمد رسول الله څخه چې هغه ستا وسیله ده او ستا د نیکه ادم وسیله و الله تعالی ته، مخ مه ګرځوه د قبر شریف څخه."(۱۰)

،،په پورتنیو شعري او نثري مثالونو کې دواړه یاد شوي الفاظ په خپل خپل ځای ډېر دقیق راغلي او هېڅکله یو د بل پر ځای نه دي استعمال شوي.،،

په (سپېڅلی قرآن) نومې د قرآن کریم پښتو ترجمه کې «مخ» او «مخامخ» سم کارول شوي دي، هلته لاندې مبارک آیتونه داسې ژباړل شوي دي:

رَبَّنَا آتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا(الاحزاب، ۶۸ ایت): ای زموږ ربه دوی ته دوه چنده عذاب ورکړه او دوی له یو ستر لعنت سره مخامخ کړه.

وَإِذَا لَقُواْ الَّذِينَ آمَنُواْ(البقرة، ۷۶ ایت): او کله چې دوی له مؤمنانو سره مخامخ شي.

إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً(الانفال، ۴۵ ایت): کله چې له یوې ډلې سره (د جګړې لپاره) مخامخ شوئ.

فَلَمَّا تَرَاءتِ الْفِئَتَانِ(الانفال، ۴۸ آیت): کله چې هغه دوه ډلې سره مخامخ شولې.

سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا (المدثر، ۱۷ایت): ژر به هغه له ډېرو سختو ستونزو سره مخامخ کړم.

قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاء فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَام(البقرة: ۱۴۴ آیت): په تحقیق سره اسمان ته ستا د مخ اړول را اړول موږ وینو، نو بې شکه موږ ستا مخ د هغې قبلې خوا ته اړوو چې ته په هغې باندې خوشحالېږې، نو مخ دې مسجد الحرام خواته واړوه(۱۱).

د دې مبارکو آیتونو په ژباړه کې دغه دواړه کلمې په مناسب ډول کارول شوې دي.

خو ځینو لیکوالو بیا د «مخامخ» پر ځای «مخ» کلمه هم استعمال کړې ده، لکه د «روښانیان او پښتو ادب» اثر لیکوال چې لیکي: «د بایزید نثر په ادبي لحاظ دومره غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نثر نه دی.... او ځکه لوستونکي د دوی نه د مفهوم اخیستو په وخت د مشکلاتو سره مخ کېږي(۱۲)».

که د مخامخ استعمال په نورو ژبو کې وګورو، هلته يې په عوض کې «مخ» نه ليدل کېږي. په دري ژبه کې وايي: «ولسوالان میتوانند وضعیت ولسوالی های شانرا رو در رو به والی تشریح نمایند». که همدغه ډول جمله په پښتو کې لیکو، نو دلته د «مخامخ» کلمه راوړل به مناسبه وي. په عربي کې وايي: انا واجهت معه (زه ورسره مخامخ شوم)، نو دلته هم «واجهت»(مخامخ) راغلی، نه «وجه» چې «مخ» ته ويل کېږي.

د دې لیکنې په ترڅ کې مې یوه ورځ د همدغې موضوع په تړاو د څېړنپوه دکتور خلیل الله اورمړ نظر وپوښت. هغه يې په ځواب کې راته وویل:

که مقابل لوری ذي روح وي، نو هلته د «مخامخ» کلمه راوړل مناسبه ده او که ذي روح نه وي، هلته د «مخ» د کلمې استعمال باک نه لري.

دی دا جملې سمې بولي: له مشکل سره مخ یم یا: له موټر سره مخ شوم؛ ځکه دلته مقابل جانب یو غیر ذي روح شی دی، نو که دلته «مخ» وکارول شي، کومه ستونزه به ونه لري. «له احمد سره مخامخ شوم»، دلته بیا «مخامخ» ویل په کار دي؛ خو له دې سره سره که همدلته «مخ» هم استعمال شي، مخالفت ورسره په کار نه دی. اصلاً په جملو کې باید ګرامري جوړښت په پام کې ونیول شي.

هغه زیاتوي، پښتو یوه جامع ژبه ده. په دې اړه کوم دلیل نشته چې ووایو «مخ» لیکل غلط دی. دلته د «مخ» استعمال داسې دی، لکه «پوزه پرې کول» اصطلاح چې لرو، دلته له «پوزه» څخه جنساً پوزه مراد نه ده، بلکې هدف يې مجازي معنا ده او هغه شرمول دي. بله دا چې پښتو ژبه بېلا بېلې لهجې لري، په یو شمېر لهجو کې شاید «مخامخ» وي او په ځینو کې «مخ» چې دا په خپله د ژبې غنامندي ښيي(۱۳).

یوه ورځ مې همدغه موضوع له استاد حبیب الله رفیع سره هم شریکه کړه. هغه (له احمد سره مخ شوم) جمله کې د «مخ» له استعمالولو سره مخالفت وښود او ويې ويل: مخامخ تقابل ته وايي، نو په دې جمله کې باید «مخامخ» وکارول شي. یو شی چې په ژبه کې وي، ولې هغه ووېستل شي، په دغسې جملو کې د «مخ» کارول، جواز نه لري او دا یو نوی خو ناوړه عمل دی چې د ځینو له خوا ویل او لیکل کېږي.

دی زیاتوي: که خبره د اختصار وي، نو لنډون او اختصار هغه وخت سم دی چې فساد را نه شي، کله چې کلمه فاسدېږي، نو دا بیا لنډون نه شو. ژبه خلکو جوړه کړې ده او هغوی يې همداسې «مخامخ» وايي (۱۴).

څېړنپوه نصرالله ناصر هم ورته نظر لري. ده تل په علمي ناستو کې د «مخامخ» پر ځای د «مخ» کلمې له کارولو سره مخالفت ښودلی دی. وايي: «پښتو ژبه ډېرې لهجې لري، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر پښتون په خپله لهجه ليکنه وکړي او د خپلې لهجې کلمې غوره وګڼي، نو د معياري لهجې د رامنځ ته کېدو خوبونه بيا عبث دي. موږ بايد د ژبې ګرامري جوړښت او د ډېرو له خوا د کلمو کارېدل او لرغونتوب په پام کې ونيسو چې دا کار به د پښتو ژبې د معياري لهجې د لا پياوړتيا لامل شي(۱۵)».

په هره ژبه کې د الفاظو او عبارتونو جوړول ازاد دي، د يوې ژبې الفاظ او عبارات له يوې يا څو ژبو سره ښايي يو شان وي. پښتو چې يوه هر اړخيزه او پراخ بنسټه ژبه ده، د کلمو او عبارتونو په کارولو کې يې بايد دقت وشي.

خو د تأمل وړ خبره دا ده چې پورتنۍ ژبنۍ ستونزه په دې وروستيو کې تر ډېره د رسنيو او خبريالانو له خوا ايجاد شوې ده. د يوې ژبې په ښه کولو او بدرنګه کولو دواړو کې مطبوعات او ژورناليستان مهم رول لري. هغوی دي چې يو شمېر لغتونه د خلکو خولو ته ور اچوي، همدغه بيا کرار کرار د ولس پر ذهنونو اغېز کوي او هماغه سم يا غلط لفظ بيا هغوی کاروي او ليکي. سره له دې چې داسې ډېرو خوږو او کره کلمو اوسمهال د رسنيو له لارې د هر وګړي او ان د ماشوم ذهن ته لار پيدا کړې ده، ښکاره مثال يې د کرکټ لوبې شېرېزه او يا د سريالونو ځيني لغتونه دي چې خلک يې بيا په محاوره کې هم استعمالوي.

ځيني معياري رسنۍ د يادو شوو دواړو کلمو سم استعمال مراعتوي، خو د همدې ستونزې يواځينی حل رسنۍ دي چې مسئولين او خبريالان په شعوري ډول په دې موضوع پوه شي او کرار کرار هره کلمه په خپل خپل ځای کې وکاروي.

نو د دې څېړنې په نتيجه کې ويلی شو: «مخ» او «مخامخ» دوه بېل ټکي او دوه جلا مفاهيم دي چې هر يو بايد په خپل ځای کې استعمال شي. د دې او دې ته ورته کلمو دقيقه کاروَنه به د معياري لهجې د لا پياوړتيا او غښتلتيا سبب شوې وي.

د دې لپاره چې په خبرو او ليکلو کې مو تنوع راغلی وي، نو دا هم کېدای شي چې موږ د «مخامخ» د لفظ نور مترادفات، لکه لاس و ګرېوان او يا د نورو ژبو له الفاظو، لکه مواجه څخه استفاده وشي.

دا چې د پښتو ژبې په ګرامرونو کې د «مخامخ» کلمې ځای تش پاتې دی، هيله ده د همدې او دې ته ورته کلمو د سمې کارونې بحثونو ته په کې ځای ورکړل شي.

له بلې خوا، ما د همدې څېړنې په ترڅ کې وموندله چې په پښتو ژبه کې د «مخ» کلمه له نورو کلمو سره يوځای ډېر نور عبارتونه او اصطلاحات جوړوي، لکه: چاته مخ نيول، د مخ ځای نه پرېښول، چاته مخ اړول، د چا مخ ته کتل، مخ پټول، مخ څټ کول، مخ اخيستل، مخ ځنې اړول، مخ تورېدل، مخ تک زېړ کېدل، مخ ور اړول، مخ ورګرځول، مخ تاوول....

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو وړانديز کوم، که همدغه عبارتونه او اصطلاحات راټول شي او په هر يوه يې څېړنه وشي، د پښتو او پښتنو اروايي او اجتماعي حالات ترې ښه معلومېدای شي.

**مأخذونه**


۱- پښتو- پښتو تشريحي قاموس، څلورم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي:ميديوتيک، ۱۳۸۳هـ. ش کال، ۲۸۵۹ مخ.

۲- پښتو قاموس (پښتو- دري)، دويم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي: خيري کتابخانه، ۱۳۸۶هـ. ش کال، کابل، ۱۶۹۶ مخ.

۳- عبدالرحمن بابا، د رحمان بابا ديوان، مصحح، مدون او مقابله کوونکی: عبدالرؤف بينوا، ۱۳۲۶هـ. ش کال، پي ډيف فايل،

۴- تشريحي قاموس، ۴۷۷ مخ.

۵– خوشحال خان خټک، کليات. اوډنه، پرتلنه، سمون او وييپانګه: عبدالقيوم زاهد مشوانی: دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴هـ ش کال، ۵مخ.

۶- حبيب الله رفيع، ادبي ستوري (لومړی ټوک)، پښتو ټولنه، ۱۳۵۳ کال، ۲۰۵ مخ.

۷- پورتنی مأخذ، ۲۵۵ مخ.

۸- مخکينی مأخذ، ۲۳۲ مخ.

۹- اخوند مصری، ادبي ستوري (لومړی ټوک)، حبيب الله رفيع، پښتو ټولنه: دولتي مطبعه ۱۳۵۳هـ. ش کال، ۱۲ مخ.

۱۰– http://www.benawa.com/pashto/library/86_mokhtar_ul_manasic/19.php

۱۱– سپېڅلی قرآن، ژباړن: مولوي وکيل احمد متوکل، مکتبه حبيبيه،:کندهار، ۱۳۸۸هـ. ش کال. بېلا بېل مخونه.

۱۲– يارمحمد مغموم خټک، روښانيان او پښتو ادب (تحقيق او ترجمه)، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي: پېښور، ۲۰۱۱م کال، ۳۰۴ مخ.

۱۳– څېړنپوه ډاکټر خليل الله اورمړ، مرکه، نېټه: ۷/ قوس/ ۱۳۹۸هـ. ش.

۱۴– استاد حبيب الله رفيع، مرکه، نېټه: ۱۰/قوس/۱۳۹۸هـ. ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵- څېړنپوه نصرالله ناصر، قلمي یادښت.

---

یادونه: دا مقاله د علومو اکاډمي د کابل مجلې د ۱۳۹۹ کال په ۲-۱مه ګڼه کې خپره شوې ده.

ډاکتر ماخان میرزی شینواری

# ژبه غني- معیاري کول، نوښت او نیولوجیزم

مورږ د پښتنو او پښتو پوهانو څخه ډېر وخت اورو، چې:

ژبه غني کول، په ژبه کې نوښت، ژبه معیاري کول، نیولوجیزم، دا نو څه دي؟

مورږ دا او داسې نور وییونو، چې مورږ ورسره مخامخ کیږو، څه په کې وایو؟

ما چې په دې هکله هرڅومره سوچ ګړی او فکر په کې کوم، نو ماته دا ټولې کلیمې تر یوې پولې پورې یو د بل سره – په پښتو کې – همغه یو ډول کړنیز څه برېښي او دا د ژبې غني کول دي.

لومړی: ژبه غني کول

د ژبې غني کول په دې پرېپوهېدنه هم دي، چې د خپلې ژبې ساتل، نو دا په دوه برخو وېشو:

لومړی ۱ : خپله ژبه ساتل

لومړی ۲ : ژبه غني کول

لومړي ۱ ته: خپله ژبه پوره کول او ویونه له ورکېدلو ساتل دا دې لومړیٔ هڅې وي.

که د یوې ژبې پیداېښتي ویونه په ښونځي او پوهنتون او همداسې نورو پوهنیزو لیکنو کې له پامه او همداسې له لیکنو غورځېدلی شي، نو دا د وخت په تېرېدو سره بیا په ژبه کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاروني ورکيړي، داپه دې پرېپوهېدنه، چې ورکيږي، نو باید څنګه خپله ژبه، داپه دې پرېپوهېدنې، چې د ژبې له پیدا راته راکړ شوي وییونه څنګه و ساتو؟

ژبې له پیداښته د اړتیاو سره سم پوره پیدا دي. د اړتیاو د زیاتېدو او د هغې لپاره د څه بللو نه لرلو لپاره سړی بیا داویونه له بلې ژبې رانیسي او یا يې د خپلې ژبې په ګډوله ویونو پوره کوي.

پوهنيز ویونه د پوهنې د ودې سره منځ ته راځي. ډېر نومونه، چې په پوهنه کې نوي راځي، هغې ته د یوه انډول نوم ځای په ځای کوي او دا په هره ژبه کې شته.

لومړي ۲ ته: ژبه غني کول: ژبه غني کول په دې پرېپوهېدل نه دي، چې خپل وییونه دې د نورو ژبو وییونو لپاره پرېږدو. د موږ پښتانه پوهان او ژبپوهان هم تر یوې کچې داکار کوي او وايي، چې دلته یا هلته او په ځانګړي ډول په پوهنو کې دا دا یا هغه پردی وی وي، ځکه چې داژبه غني کوي.هو ژبه به غني کوي ، خو په خپلو ویونو يې غریبه کوي هم. دانن د نومبر ۴ ۲۰۲۱ ز ک مې ولوستل ،چې **د موږ پوهان يې لیکي: ،، .. زموږ سترګې يې د اضطراب او اضطرار د نوسان په وړاندې..،،.**

د ما په اند دا د ژبې غني کول یا معیاري کول نه دي، دا د ژبې – دا په ډېره بخښنه لیکم – دا د ژبې توهین او د پښتو له منځه وړل دي، دا لیکونکی خو داسې انګېري، چې نو دا نور ولې بایدپرېبوه نه شي او یا د ده او د دې نورو په منځ کې خو دې څه توپیر هم وي، چې دی څه لیکي، دا نور پرې نه پوهیږي او که پرې پوه شي، نو بیا و په منځ کې توپیر څه؟ ( بیا هم په بخښنه).

--- د هېڅ ژبې پوهنیز نومونه د هغې ژبې له پیداښته نه دي، خو دوي يې د ورته څه نوم اینولی یا همهغسې بلل لکه ځمکغونډوسکه، چې عرب يې ښايي هم کرتّ الارض(؟) وبولي. موږ ته نو ولې دا کره، چې غونډوسکه لرو یوه د ژبې بډایینه وبرېښي؟ دا خو د ژبې بډایینه نه ده، دا دموږ په خپله ژبه نه برلاسي کېدنه ده او یا ورته په درنه سترګه نه کتل دي. چې خپله غونډوسکه راته د پوهنیز څه یا له نوم څخه لرې وبرېښېده، نو په ختّه کې له پوهنې څخه لرې یو،که نه هغه پیداښتي څه چې لرو، باید په درنښت ورته وګورو. راځی، چې دا مثلث وګورو، چې دا عربي باندې يې څومرهپ،هیرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهدومرهپوهېږم، چې دا له ثلاثه، ثلث او یا ... نهپوهېږم څه څخه منځ ته راغلی نوم دی او داسې پېژند کړی شي ولري: هغ هواوره، چې درې کرښو رابنده وي، ملث بلل کيږي يا ... چې له درې کرښو رابنده او درې زاويې ولري او يا...... مثلث بلل کيږي.

دې ته په پښتو سم نوم درېګوډی ده. ولې ښځينه نوم؟ ځکه هواره ده او څېره، نو ښځينه.

دلته په دې نوم سملاسي پ،هېږو، بې له پېژند، چې داسې يا هغسې.څېره چې درې ګوډونه ولري ، درې ګوډی بلل کيږي او همداسې څلورګوډی او ...

ولې ګوډ؟

يوه ژبپوه راته وويل چې ګوډ خو موږ هغه چا ته وايو، چې ګوډ ځي، نو د ماځواب هم سملاسي وو او ورته ومې ويل، چې پښه يې ګوډ جوړوي، چې ګوډ دی.

موږ په پښتو کې لکه الماني کې هم کونج لرو او ګوډ، چې ګوډ يې دباندنی او کونج يې دننني دي.

تاسو نو پرېکړه وکړی، چې کوم به ښه پوهوړ او ساده وي، خو د عالمانو له ليد او انده لرې دی، ځکه د پښتو دی او داسې پوهنيز ورته نه برېښي.

تراوسه مو چې دا کار نه دی کړی، نه پرېپوهېدو او پوهنه مو هم په پښتو نه وه، خو اوس چې په يو څه پوهېږو او پيل مو کړی، چې پښتو پوهنيزه شي، نو پښتو لرلي ويونه د بلې ژبې د وييونو لپاره بايد د له منځه تللو مخه يې ونيول شي.

دلته د ژبې هغه پيداېښتي بدايينه خوندي پاتېږي.

نوره ژبه بډايې کونه، نو بياڅه دي؟

دويم: په ژبه کې نوښت: دموږ ژبه تراوسه پورې هغه بنسټيز ويونه په برديو ژبو لري، دا په دې پرېپوهېدنه، چې موږ تر اوسه پورې لا پوهنه نه ده په پښتو کړې، نو دنوښت سره به يې څنګه سراو کار ولرو.

زه پخپله نه پوهېږم، چې د ژبې نوښت به نو څه وي؟

ژبه مو پوره ده، ژبه کې بايد خپلو وييونو ته ځای ورکړو، له دې سره، چې خپل ويونه وليکو، چې شونتيا په حالت کې، دا مو رړې ژبې نوي کول وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډ: د ژبې نوښت کوم څه ځان پسې نه لري، موږ چې د خپلې ژبې پيداښتي ويونه وساتو، دا پوره کار دی.

دريم: ژبه معياري - يا ستاندارد کونه، نو څه؟

د موږ ژبپ،هان او ليکوالان د ژبې د سوچه کولو لپاره معيار ته کچه ليکي، چې ډېره ناسمه ده. دا يو له هغو ويينو دی، چې همدا معيا يا ستاندارد يې وليکو، دا ژبې غني کونه ده.

ستاندار يا معيار يو اوږد تاريخ لري، چې زهپه هغې نهغږېږم، خو دا هم د انسانانو د اړتيا سرهسم د انسانانو لخوا منځته راوړل شوی دی، چې ګومان مې دی، په نيولجيزم کې رتلی شي.

د کورونو معيار څه شی دی؟

يو څوک ، چې ډېر کورونه جوړوي، نو د هغو کورونو لپارهدوی يو څه يا يو کور جوړوي، دا بيا د ستاندار يا معيار په موخه دی او نور يې بيا پههمغه ډول وي، لويوال، کونجونه او هر څه يې اړوند وي. د ژبې ستاندارد يا معيار يا معياري ژبههغه ده چې له کليوالي خبرو راووځي، ښوونځې ته ننوځي او همداسې د ليک لوست ژبهشي، چې د ژبې ټول ويونکي يې بيا سره په مغه ډول کاروي. دلته د هغو ژبو ويونکي ويونکي، نور پهرسمياتو، ښونځې او نورو غونډو کې کارول کيږي. د کليوالي ژبو ستاندارد هم شته، چې په هالنډي او الماني، چې سرهنږدې دي، دا رامنځ تهکيږي، خو موږ په هغو نه غږېږو.

بل د ژبې معياري کول، د ژبې د ويونو کتابونه جوړول او ګرامر ته يې پوره پام کول او د ګرامر پوره کول دي.

اوس نو د ژبې ستاندار يا معيار پهدې پرېپوهېدنه، چې ژبه ټوليزه شي، دا بيا پهدې پرېپوهېدنه، چې د ټولو کليوالي خبرو ويونکي همدا ومني.

يادونه: موږ کله، کله هڅېږو، چې دا کليوالي خبرې مو لهمنځه يوسو، يا په ځانګړې توګه هغه د ليکلوست خاوندان، خو د يوې ټولنې لپارها هم غوره ده، چې د هر کليوالو خبرو خلک هغه خپلهکليوالي ويينه وساتي، دا يو ځانله خوند لري او دا خوند د ټولنې د وګړو څخه بايد له منځه لاړ نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلورم - نیولوجیزم: پهدې هکله مې یوه لیکنه کړې، دلته نه پرې غږېږم، خو دا سې لږ پام بهورته ستاسو راګرځوم.

د نیو لوجیزم یو هبېلګه به تاسو ته له انګرېزي ، چې ما له الماني رانیولې ، تاسو سره ګډه کړم:

دلته  د ژبې یوه ریښه ده، چې اېنفورماتیک ورتهوایي. موږ یې په افغانستان کې د کمپیوترپوهنې لاندې ګوامان کړم، لولو، خو دا اینفوارتیک ډېر ه غزېدالې او ستونځمنه پوهنریښه.

انفورماتیک له دوه کلمو جوړ دی: اېنفوماڅیون یا اېنفورمېشن او ماتماتیک. داسې نور ډېر نومونه شته.

زه به یو ډېر ورځنی نوم راو اخلم او اندم، چې دا نیلوجیزم دی، لکه غوبلموږی، چې له غوبل او موږي څخه جوړ دی. دا له پیداېښته منځ ته نه دی راغلی، دا د انسانانو د اړتیا سرهمنځ ته راغلی. نورو ته یې تاسو فکر وکړی.

نیولوجېزم ته هغه وخت اړتیاپېښیږي، چې ته یو څه نوي منځ ته راوړي او نوم ورتهنه وي او هغې ته بیا نوم پیدا کوې. دا موږ کړی شو، چې لهېرمختللو ژبو موږ هم د نیولوجیزم په توګه لاس ته راوړو. زهبه بهیې بیا یوه یا څو بېلګې راوړم. څه وخا پورې د مخه د کوچنیانو او اوس د لویانو لپاه هم یوه الهشته، چې دوه ګاډیله یا څبرخونهلري، چې په ةنخ کې یې یوه تخته او د لاسو نیولو څه دي. سړی په د هغه د لاسون- که لاربنودی( لارسمونی یا سمونې یې بولې) دی هغه نیسي، پهدې تخته پښې ږدي او هغه ځغلي. دې تهپه الماني   Laufrad وایي، چې د ځغاستې او څرخونو جوړ دی، چې په پښتو یې انډول خغاستڅرخه ده. دا له ځغاستې او څروخونو جوړه اله ده، چې د ما په اند نیو لوجېزم دی.

دا دې یوه ننوتنه وي، کېدی شي وړاندیزونه وشي او داسې ورځنی موضوعګاني هم معیاري کړی شو.

موږ پهژبه کې خورا ډېرې ستونځې لرو، خو هغه ساده یې لومړی باید د څېړنې او پوره کونې لاندې ونیسو.

داسې لږ لنډ د ژبو تاریخ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



انساني ژبې لږ ترلږه سلزره کاله د مخه وده کړې. دا چې لسزره کاله د مخه انسانانو پیل وکړ چې کلي یا باندې جوړې کړي، اړیینه وه، چې په ژبه کار وکړي او جوړښت یې واړوي، دښه پوهېدلو له امله دا کار پیداښتي اړیین وو. د ودې سره سم دا وده  پوره پېچلې او ویینتوانمنده شوه یا د ویېنۍ لپاره ځواکمنه شوه. 14.11.2019

داسې ګومان کیږي، چې مودرن انسان(Homo sapiens) توانمند وو، چې خبرې وکړي. انسان د نن وسبا ته په خبرو پیل نه دی کړی.

ژبو څنګه وده وکړه؟

نن په نړۍ کې له ۶۰۰۰ زیاتو ژبو باندې خبرې کیږي. د ځنو پوهانو له انده ډا ټولې زبې له یوې ژبې څخ سرچینه اخستې یا سرچینه یې یوه ژبه ده. لېمان  Lehmann وایي:،، دا روانې تیوري له مخې پخوانی انسان له افریقا خورژېدلی... ټولې ژبې له دې امله ځای اړونده دیالکتونه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډاکتر ماخان میرې شینواري لیکنې او ژباړې

د ډاکتر ماخان شینواري چاپ او لیکنې، چې پرته له لسو نورې تولې تر اوسه ۴۵ یې له ketabton.com څخه خورې شوې:

<u>:(Vienna (Austria 1988</u>

<u>لومړی:</u>

topological Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact .H.K Page 117 – 122 ; general algebra 6 algebra : contributions to

<u>:(Vienna (Austria 1987</u>

<u>دویم:</u>

لومړی-und Aproximation durch Polynime in Universalen Interpolation Diss . Uni. Wien . Algebren

دویم-*and Aproximation by Polynome in universal Interpolation the University of Vienna/Austria Dissertation at ,Algebras*

لاندې د شمیرپوهنې پښتوتول کتابونه په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له خوا چاپ شوي دي
<u>:(Bonn (Germany 2000</u>

دریم: د شمیرپوهنې ستر کتاب : د شمیرپوهنې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره ( دا کتاب په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې لیکنه به یې څنو ځایونو غزېدلې او څنې ځایونه ترې لرې شوي دي)
<u>:(Bonn (Germany 2003</u>

څلورم: ځمککچپوهنه( هندسه) ، په سلو، زرو کې شمیرنه، د کتې – او کتې د کتې شمیرنه ، د اختمالوالي شمېرنه کتاب د ښوونځي ټولې اړتیاوې پوره کوي
<u>:(Bonn (Germany 2003</u>

پنځم: الجبرونه ( د الجبر بنسټونه دي) ( ketabton:com ته پورته شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



:(Bonn (Germany 2003

شپږم: د شمیرپوهنې انګرېزي – پښتو ډکشنري.( ketabton:com ته پورته شوی)
:(Bonn (Germany 2003

اووم: د شمیرپوهنې الماني - پښتو- او پښتو الماني ډکشنري ( ketabton:com ته پورته شوی)

*dictionary German/ Pashto and Pashto/German Mathematical*
:(Bonn (Germany 2003

اتم: دفرنشیال برابرون ( دا کتاب په دې ځانګه کې یو پیل دی، ساده لیکل شوی) ( ketabton:com ته پورته شوی)

*equation Translation; An Introduction Differential*
Germany): 2003) Bonn

نهم: د شمیر پوهنې فرمولونو ټولګه
*Formulas Mathematical*
:(Bonn (Germany 2003

لسم: شمیرپوهنه له عربي په پښتو

:(Bonn (Germany 1997

یوولسم: د افغانستان په هکله سپینې خبرې: په المان کې

،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خو

یادونه: له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواري د ،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا درې سیاسي مجلې هم را وستلې.

ژباړې او نورې لیکنې:

*: (Brinkmann. (From Brinkmann.du.de .Prof*

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې د برېنکمن لیکنې چې له پرېنکمن ن ج څخه ژباړل شوي دي. دا کتابونه د ښوونځي له پاره او همداسې د کانکور ازموینې له پاره ګټور دي.

دولسم - شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک ( ketabton:com ته پورته شوی)

دیارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دویم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

څوارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دریم ټوک( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځلسم - د احتمالوالي شمیرنه د ښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

شپاړسم – احصایه یا ستاتیستیک دښوونځي لپاره( ketabton:com ته پورته شوی)

لاندې کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو څخه چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

اولسم – انالیزی ۱ ( ketabton:com ته پورته شوی)

اتلسم – انالیزې ۲( ketabton:com ته پورته شوی)

نولسم – کرښیز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

شلم - د شمیرپوهنې بنسټونه ( ketabton:com ته پورته شوی)

یوېشتم - د فرمولونو ټولګه( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ویشتم – فنکشنل انالیز( ketabton:com ته پورته شوی)

درویشتم – وکتور شمیرنه ( ketabton:com ته پورته شوی)

نورې ژباړې

څلرویشتم – له www/grundstudium.info/linearealgebra. څخه:کرښیز الجبر ( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځویشتم – Georg Gutenbrunner ګنونپوهنه یا د اعدادو تیوري( ketabton:com ته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما لیکنې
:(Germany) Bonn

شپږویشتم - د شمیرپوهنې ستر کتاب دویم چاپ لومړۍبرخه: د پوره تغیراتو سره : دا کتاب د شمیرپوهنې برخې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زدهکوونکو لپاره پوره ګټور دی. په کتاب کې د اړتیا سره زیاتونه او کونه راغلي ( ketabton:com ته پورته شوی)

اوه ویشتم- د شمیرپوهنې ستر کتاب دویمه برخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

اته ویشتم - ځمککچپوهنه ( هندسه) دویم چاپ د پوره تغیراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

نه ویشتم – الجبر بنسټونه دویم چاپ له تغیراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوی)

دېرشم - ډېری پوهنه یا سټ تیوري ( ketabton:com ته پورته شوی)

یودېرشم – د شمیرپوهنې سم اند ( منطق ریاضي) ( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه دېرشم - د یو څو شمیرپوهانو ژوندلیک( ketabton:com ته پورته شوی)

دریدېرشم – د شمیر پوهنې ګډې وډې لیکنې

څلوردېرشم- داهم ژباړه ده، خو لیکونکی یې متآسفانه راڅخه نابلد شوی: د مشتق او انتیګرال شمیرنو ته تمرینونه او اوبیونې یا حلونه یې( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه دېرشم – د شمیرپوهنې انګریزې پښتو او عربي + درې ډکشنري

شپږدېرشم – د شمیرپوهنې پښتو انګرېزي ډکشنري( ketabton:com ته پورته شوی)

اوه دېرشم – د شمیرپوهنې پښتو ډکشنري د شمیرپوهنیزو ویيونو په پښتو روښانه ونه( ketabton:com ته پورته شوی)

اته دېرشم - د زړه له کومې( دا هغه لیکنې دي، چې ځنې یې په نړیول جالونو کې خپرې شوي دي.)

نه دېرشم – د افغانستان په هکله سپینې خبرې، چې وبه غزیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلوېښتم– د شتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو ځخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج ځخه خپرېږي: د ګروپونو تیوري( ketabton:com ته پورته شوی)

- د ښوونځي لپاره فزیک د برینکمن لیکنه

له پنځم ټولګي ځخه تر اووم ټولګي پورې ژباړل شوی ( دا چې زما دویم مسلک فزیک دی، دا لیکنې ژباړم. دا هم د دې لیکوال یوه ډېره ښه لیکنه ده، چې -د شمیرپوهنې په ځیر- دلته هم زیات تمرینونه د حل یا اوبیونې سره په کې راغلي او ماته زیات ګټور برېښي) او دالاندې د برینکن ځخه راژباړلي

یوځلوېشتم - فزیک لومړیبرخه ( ketabton:com ته پورته شوی)

دوه ځلوېښتم – فزیک دویمه برخه. برېښنا پوهنه. همدا کتاب. ( ketabton:com ته پورته شوی)

درېځلوېښتم – د پوهنې وزارت له خوا چاپ د ښوونځي شمیرپوهنې کتابونو ته کتنه. دې کتاب کې د دښوونځي کتابونو د هر کتاب یوې برخې ناسمونونو ته ګوته نیول شوې او ناسمونونه بیا سم شوي هم دي.( ketabton:com ته پورته شوی)

ځلورځلوېښتم – د فزیک کوچنۍ ویونو دکشنري( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه ځلوېشتم – پرېپوزېشن یا اړیکویونه.( ketabton.com ته پورته شوی)

شپږځلوېشتم = ژبسمون( پښتو کې ناسم راننوتي ویونه، چې سم شوي دي) ( ketabton.com ته پورته شوی)

اوه ځلوېښتم – پښتو ژبلار یا ګرامر ۲۰۲۰ همدا کتاب ( ketabton.com ته پورته شوی)

اته ځلوېشتم – ژبسمون ( که غواړئ دویم غزېدلي لیکنه) : له پخوانی لیکنې ځخه نوی شوی او پوره غزېدلی ۲۰۲۰.( ketabton.com ته پورته شوی)

تازه لیکلي خو تراوسه کتابتون ته نه دې پورته شوي او دا د ځانله لیکنو په توګه له درې کاله را په دیخوا د تاند او په دا ورسته کې د دعوت او همداسې د نورو د ج ځخه خورېږي او خواره شوي دي. په دې کتاب کې د پښتو ناسم ننوتي ویونه ځېړل شوي ناسمونونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوته نیول شوي او په دلایلو روښانه .شوي، چې ژبمینوالو لهپارهیې لوسته او ګوتنیونه اړیینه ده.

نهه څلوېښتم – داسې څه له فلسفې ۲۰۲۰( ketabton.com ته پورته شوی)

پنځوسم – ژبې مري او نورې لیکنې ۲۰۲۰ ( ketabton.com ته پورته شوی)

دا اوس خورنې ته چمتو: هیله ده چې کتابتون.کوم ( ketabton.com ته پورته شوی) کې یې وکتلی شئ

یوپنځوسم- پښتو ژبلار د ښوونځي لپاره. همدا کتاب

دوه پنځوسم- هر څه د ژبې په چوپړ کې.

درېپنځوسم- د نړۍ هوښیارتیاوې.

څلورپنځوسم – د جبران خلیل غوره خبرې .

پنځه پنځوسم- ټولګیز سم اند همدا کتاب .

.

.

.

.

.

.

.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډاکتر ماخان میرې شینواري ژوند ته یوه لنډه کتنه

نوم: ماخان ( په لومړي ځل يې نوم ،،ميرې،، وو. د رحمابابا ليسه کې نوملیکلو وروسته په ماخان باندې بدل شو)

د کورنۍ نوم : شینواری

د پلار نوم: ارواښاد نورالرحمان

د مور نوم: ارواښاده پستو

د نیکه نوم: ارواښاد حسن خان

د نیا نوم: ارواښاده صبره بي بي

دزېږېدو کال: ډاکتر ماخان شینواری د ۱۹۴۶ ز ک د سپتمبر په ۱۵ نېټه زېږېدلی دئ ( دا خو هغه رسمي ز ک دئ. سمه نېټه يې ۱۳۲۲ او ۱۳۲۰ ش ه کلونو منځ کې باید وي، خو تره مې وايي ۱۳۲۰ ه ک دئ)

د زېږېدو ځای: ننګرهار د شینوارو د هسکې مېنې ولسولي په مورګې کلي کې زېږېدلی.

د مورګی غارخلي کلي کې د لمنځتون استادانو څخه له قرانکريم تر پنجکتاب، خلاصه، مونيه، ګلستان پورې، چې دا مو بيا په ښوونځې هم لوستل، لوستلي، خو بې له دې چې پوره پرې پوه شي.

کليوالي ښونځي: له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۴ پورې د هسکې مېنې مورګی لومړني ښونځي، چې دی يې هم د لومړنيو زدکوونکو له ډلې څخه وو.

د رحمان بابا لېسه : له لومړي او بيا له دريم تر ۱۲ ټولګي پورې له ۱۹۵۴ تر۱۹۶۵ پورې.

دی د رحمان بابا ليسه کې له دريم تر ۱۲ ټولګي پورې د خپل ټولګې اولنمره پاتې شوی.

۱۹۶۶ ز ک د کابل پوهنتون دطب پوهنځي په همدې کال کې

۱۹۶۶ ز ک د سپتمبر مياشت د ښوونځي برس له لارې اتريش ويانا ته تګ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ کال پورې ویانا اړوند مودلینګ کې د الماني یا بنه یې اتریشي ژبې او د دیارلسم ټولګي لوست.

اکتوبر ۱۹۶۷ د وینا پوهنتون کې نوملیکنه، چې د پوره زیاتو ستونځو سره په ۱۹۸۹ ز ک کال کې د ډاکترۍ په اخستلو بریالی شو( دا نو پوره ستونځې دي).

له۱۹۸۷ ز ک تر ۱۹۸۸ ز ک د فبروري تر پای د دباندنیو چارو وزارت کې مامور.

د ۱۹۸۸ دمارچ لومړۍ نېټې څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بون جرمني کې د افغانستان جمهوریت سفارت کې د سفیر دندې د شارژد افیر( صفر نه وو) د نوم لاندې.

له هغې وروسته په جرمني کې سیاسي پناه.

د ۲۰۰۴ ز ک جون څخه د ۲۰۰۵ ز ک جنوري پورې د کابل علومو اکادمي د پیداپښتي پوهنو څانګه کې دنده.

له ۲۰۰۸ ز ک د مارچ څخه د ۲۰۰۹ زک دسمبر پورې د ریاضي څانګه کې د پوهنې وزارت درسي نصاب کې دنده.

ماخان شینواري بې کاره نه دی او لږ تر لږه له ۹۷ ۱۹ څخه همدا د کتابونو لیکلو او د ژباړې دنده په غاړه اخستې، چې خپل فکر تر شونې پولې پورې تازه وساتي.

ماخان میړي په ۱۹۷۲ کې له لرې د میرمن ښاپیرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتریش ویانا ته ورغلی.

ده د میرمن ښاپیرۍ سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي څښتن په اتریش ویانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچیان وبخښل، چې څانګه او اباسین نومیږي. څانګه په المان کې د پوهنتون علمي همکاره وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسین ملي اقتصاد او ټولنیزه سایکولوژي لوستلې.

ډاکتر شینواري ته د پوهنیزو هلو ځلو له امله ستاینلیکونه:

۱ – د افغانستان کلتوري ودې ټولنه. جرمني

۲ – د افغانستان کلتوري ټولنه کولن میشنیش. جرمني

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**